# د افغانستان
# د هندوانو او سیکهانو
# نظر پوښتنه

احسان شایګان، مهدی فروغ
او سیدمسعود سادات

فبـروری ۲۰۱۹

OPEN SOCIETY AFGHANISTAN

Porsesh Research & Studies Organization

# د افغانستان د هندوانو او سیکهانو نظرپوښتنه

احسان شایگان، مهدي فروغ او سید مسعود سادات

پښتو ژباړه او ایډیټ: نصرت الهام

د پښتۍ ډیزاین: حمید فیدل

...............................................

فبروری ۲۰۱۹

ایمیل: porsesh.research@gmail.com/ info@porseshresearch.org
وب‌سایت: www.porseshresearch.org

OPEN SOCIETY AFGHANISTAN

Porsesh Research & Studies Organization

# لیکلړ

منته ........ ۵

**لنډیز ........ ۷**

*امنیت* ........ ۸

*سیاسي ګډون* ........ ۹

*اقتصادي وضعیت* ........ ۱۰

مدني حقونه ........ ۱۱

*کډوالي* ........ ۱۱

*ادغام* ........ ۱۲

**سپارښتنې ........ ۱۳**

*دولت ته سپارښتنې* ........ ۱۳

*ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې ته وړاندیزونه* ........ ۱۵

**سریزه: ........ ۱۷**

***د افغانستان د هندوانو او سیکهانو مخینې ته کتنه* ........ ۱۹**

ملي روحیه او ټولیز وضعیت ........ ۲۲

د هیواد په *اړه* خوشبینی ........ ۲۲

د خوشبینۍ *او* بدبینۍ دلایل ........ ۲۵

د هندوانو او سیکهانو پر وړاندې ستونزې ........ ۲۷

**امنیت ........ ۳۱**

پر فردي مصئونیت وېره ........ ۳۴

جرم او تاوتریخوالی ........ ۳۸

**سیاسي ګډون ........ ۴۵**

ټاکنې ........ ۴۸

دولت سره اړیکې ........ ۵۲

**اقتصادي وضعیت ........ ۵۵**

د کورنی اقتصادي وضعیت ........ ۵۶

د کار په بازار کې ګډون ........ ۵۹

**مدني حقونه ........ ۶۳**

قضایي دستګاه او د شخړو هواری ........ ۶۶

دیني آزادي ........ ۶۸

**مهاجرت ........ ۷۱**

مهاجرت ته لېوالتیا ........ ۷۳

د مهاجرت له لېوالتیا سره تړلي عوامل ........ ۷۹

**ټولنیز ادغم ........ ۸۱**

د استوګنې د ځای او د کار د چاپېریال تنوع ........ ۸۳

د تبعیض تجربه ........ ۸۵

لومړی ضمیمه: روش پېژندنه ........ ۸۹

**مننه**

د پرسش څېړنيزې موسسې په استازيتوب د (پرانستې ټولنه بنسټ) له انسټيټوټ (FOSI) او د هغوی د پروګرامونو د استازي په توګه د افغانستان د پرانستې ټولنې دفتر څخه مننه کوو چې دا څېړنه يې تمويل کړه.

همدارنګه، له ښاغلي احمد شاه مبارز څخه د ايډټ او فني ملاتړ له امله ډېره مننه کوو. ښاغلي مبارز د دې څېړنې د مسودې اړوند د خپلو فني نظرياتو په شريکولو سره د څېړنې د وروستۍ نسخې په بډاينه کې ارزښتناکه ونډه اخستې.

په عين حال کې، اړينه ګڼو د سرحدونو او قبايلو د چارو وزارت، په ځانګړې ډول د غزني ولايت د قبايلو او سرحداتو د چارو رياست څخه مننه وکړو چې زموږ ساحوي سفرونو کې يې اسانتيا برابره کړه او په دې برخه کې يې هراړخيز او پر وخت ملاتړ دريغ نه کړ.

موږ له ټولو ميداني څېړونکو، سروې کوونکو، د سيمې د مشرانو او ساحوي تسهيلوونکو څخه هم ډېره مننه کوو، چې د ميداني اطلاعاتو او معلوماتو په راټولولو کې يې پرله پسې او بې دريغه هڅې وکړې. له هغو کسانو چې په نظرپوښتنه او تفصيلي مصاحبو کې يې ګډون وکړ هم مننه، چې خپل قيمتي وخت يې زمونږ د پوښتنو ځوابولو ته ور کړ.

يوه ځانګړې مننه له ښاغلي ايشوار داس څخه کوو چې په ميداني کارونو او د دې نظر پوښتنې په ټولو پړاوونو کې يې پرته له هيڅ تمې زموږ مرسته وکړه.

په پای کې، د پرسش څېړنيزې موسسې د ټيم له غړيو هم مننه کوو او وياړو چې د دې څېړنې په ترسره کولو کې ورسره همکار وو. د دې موسسې د ډلې ټولو غړيو د دې نظرپوښتنې له پيله تر پايه له موږ سره هراړخيزه همکاري کړې.



## لنډيز

### ملي روحيه

- هنـدوان او سـيکهان د افغانسـتان د لـوري يـا مسـير پـه هکلـه د نـورو افغانانـو پـه پرتلـه د پـام وړ کمـه هيله‌منـدي لـري، لـوی اکثريـت (۸۱.٦٪) هنـدوان او سـيکهان فکـر کـوي چـې افغانسـتان پـه ناسـم لـوري روان دی، او يوازې ۱۳.۱% هنـدوان او سـيکهان وايـي چـې افغانسـتان پـه سـمه خـوا روان دی، پـه ۲۰۱۸ کال کـې پـه مـلي کچـه د آسـيا فاونډيشـن لـه خـوا تـرسره شـوې د افغانانـو سروې کـې ۳۲.۸% افغانانـو ويـلي هيـواد يـې پـه سـم لـوري روان دی، او ٦۱.۳% ويـلي چـې هيـواد يـې پـه ناسـم لـوري روان دی.
- د هيـواد د مسـير پـه اړه اټـکل پـه هندوانـو او سـيکهانو ځـواب ورکوونکـو کـې لـه مهاجـرت سره هـم نـږدې اړيکـه لـري، د اقتصـادي او سـياسي ګـډون او امنيـت هومـره هيـڅ بـل لـوی عامـل د ځـواب ورکوونکـو لـه هيله‌منـدۍ سره ډېـره اړيکـه نـه لـري. د افغانانـو پـه مـلي سروې کـې تـر ډېـره پـه غير معمـولي توګـه د اقتصـاد، ټولنـې او امنيـت د عواملـو او د هيله‌منـدۍ د کچـې تـر منـځ پخـه اړيکـه مونـدل شـوې.
- پـه ۱۳.۱% هنـدو او سـيکه ځـواب ورکوونکـو کـې، چـې وايـي هيـواد پـه سـم لـوري روان دی (۴۳.۲%) يـې مهـم علتونـه دا ښـيي چـې افغانسـتان پـه ښـه کېـدو دی يـا د پرمختـګ پـه حـال کـې دی، ۳۵.۱٪ يـې ښـه امنيـت او د جنـګ پـای تـه رسـېدل

علت ګڼي. هغه ۸۱.٦% ځواب ورکوونکي چې وايي هیواد په ناسم لوري روان دی ۹۰.۴% یې لامل ناامني، جګړه او ځانوژونکي بریدونه ګڼي. نور لاملونه یې بې کاري ۱۹.٦٪، او غربت/کمزوری اقتصاد ۸.۳٪ یاد شوي.

- تر ټولو لویې ستونزې چې هندو او سیکه ټولنه ورسره مخامخ ده، بې کاري (۳٦.٦٪)، د ښوونځي نشتوالی یا ښوونځي ته د تلو توان نه لرل (۲۷.۱٪)، او ناامني/جګړه (۲۴.۳٪) دي. تر ټولو لويې ستونزې چې هندو او سیکه ځوانان ورسره مخامخ دي د ښوونځیو د اسانتیاوو نشتوالی یا بې سوادي (٦۷.٦٪)، او بې کاري (۴۸.٦٪) ده. تر ټولو لویې ستونزې چې هندو او سیکه ښځې ورسره مخامخې دي په آزاده توګه له کوره بهر د تللو توان نه لرل دي یا دا چې د کورنۍ نارینه یې نه پریږدي چې بهر ولاړې شي (۴۰.۵٪)، ښوونځي ته د تللو توان نه لرل د ښوونځي د آسانتیا نشتوالی یا بې سوادي (۳۵.٦٪) او ناامني/ جګړه (۱۲٪).

***امنیت***

- په لويو ښارونو کې له اوسېدو سره سره نږدې ټول(۹٦.۸٪) هندو او سیکه ځواب ورکوونکي وايي چې، هر وخت، کله کله او یا ځینې وخت د خپل ځان یا د خپلې کورنۍ د خوندیتوب په اړه ویره لري. نسبتا ۷۱.۱٪ عام خلک د افغانانو د ملي سروې له مخې هر وخت، کله کله او یا ځینې وخت د خپلې کورنۍ د غړو په اړه وېره لري. ډېره برخه (۷۰.۵٪) هندو او سیکه ځواب ورکوونکي هر وخت وېره لري، چې د نورو افغانانو په پرتله یې د وېرې کچه د پام وړ زیاته ده، عام افغانان (۱۳.۲٪) دغه وېره احساسوي.

- په ځواب ورکوونکو کې په سوله ییزو لاریونونو کې له ګډون او رایه ورکولو څخه وېره په لوړه کچه کې ده او د هیواد نورو سیمو ته له تګ څخه وېره بیا کمه ده، له نیمایي زیات (۵۵.٦٪) ځواب ورکوونکي وایي چې دوی په سوله ییزو لاریونونو کې ډېره وېره احساسوي، چې دغه وېره له عام نفوس څخه زیاته ده، عام افغانان ۳۲٪ یې دغه وېره لري . (۵۱.۷٪) ځواب ورکوونکي وایي چې په رایه اچوولو کې د ډېرې وېرې احساس کوي، چې له عام نفوس څخه

یـې د وېـرې کچـه زیاتـه ده، د افغانسـتان عـام نفـوس ۱۹.۲٪ یـې دغـه وېـره لـري.

- ځـواب ورکوونکـو لـه داعـش سره لـه مخامخېـدو ترټولـو ډېـره وېـره ښـوده ۹۰.٦٪، چـې پـه عـام نفـوس کـې دغـه وېـره ۸۳.۳٪ ده. پـه درېـوو کـې لـه دوه برخـو زیاتـو (٦۸.۹٪) ځـواب ورکوونکـو لـه طالبانـو سره لـه مخامخېـدو ډېـره وېره ښـودلې، جالبه دا چـې لـه عـام نفـوس څخـه یـو څـه کمـه ده، د افغانسـتان (۷۵.۳٪) عـام نفـوس طالبانـو سره لـه مخامخېـدو وېـره ښـودلې. سربېـره پـر دې لـه نیمـې زیاتـو ځـواب ویونکـو (۳۵.۱٪)، لـه افغـان مـلي پولیسـو سره لـه مخامخېـدو وېـره ښـودلې، چـې پـه غـیر متوقـع ډول لـه عـام نفـوس څخـه زیاتـه ده، پـه مـلي سروې کـې (۱۴.۵٪) عـام نفـوس پولیسـو سره پـه مخامخېـدو کـې د وېـرې احسـاس کـوي. دا شـاید لـه افغـان مـلي پولیسـو سره پـه اړیکـو کـې د هنـدو او سـیکهـ ځـواب ورکوونکـو د کمـزورو تجربو ښـکارندوی وي، چـې پـه ښـاري سـیمو کـې د امنیـت پـه ټینګښـت کـې لویـه برخـه لـري، چېرتـه چـې هنـدو او سـیکهـ نفـوس مېشـت دی. همـدا راز یـو شـمېر هنـدو او سـیکهـ ځـواب ورکوونکـو (۱٦.۸٪) لـه نړیوالـو ځواکونـو سره پـه مخامخېـدو کـې هـم ډېـره وېـره ښـودلې او لـه افغـان مـلي پـوځ سره پـه مخامخېـدو کـې (۵.۲٪) ځـواب ورکوونکـو ډېـره وېـره ښـودلې، چـې پـه مـلي کچـه پـه پرتلنـه کـې د پـام وړ کمـه ده (پـه مـلي کچـه ۳۷.۳٪ او ۱۲.۳٪ پـه ترتیـب سره)

- د مـرګ ګواښـونه او نـور ګواښـونه د (۱٦.۱٪) ځـواب ورکوونکـو لـه خـوا رپـوټ شـوي دي، فزیکـي وهـل یـا ټپـي کـول د ۸۱.۳٪ لخـوا رپـوټ شـوي دي. ډېـری ځـواب ورکوونکـي نـه پوهېـږي چـې چـا ګواښـلي او چـا پـرې فزیکـي بریـد کـړی او مرتکبین نـه پیـژني.

- هنـدوان او سـیکهان پـه پراخـه کچـه د ځمکـو د غصـب قربانیـان ګڼـل کیـږي. پـه ټولـه کـې ۱٦.۳٪ ځـواب ورکوونکـو ویـلي چـې ملکیـت یـې لـه لاسـه ورکـړی. پـه عام ډول هغـه ملکیتونـه چـې اخسـتل شـوي یـا پـه زوره پلـورل شـوي (۱۰.۱٪) ځمکـې او (۷.۳٪) یـې کورونـه دي.

## سیاسي ګډون

- لـه نیمایـي زیاتـو د رایـه ورکولـو پـه شرایطـو برابـرو ځـواب ورکوونکـو، ښـځو او نرانـو

ویلي، چې په تېرو ملي ټاکنو کې یې برخه اخستې. په ټاکنو کې ګډون په کابل کې تر ټولو کم او په ننګرهار کې تر ټولو زیات و.

- د درېوو یوه برخه (۳۴.۸٪) ځواب ورکوونکي وایي، دوی احساسوي چې د سیمه ییزې حکومتولۍ پر پرېکړو ډېر یا لږ اغېز لري. دا له ملي اوسط حد څخه، هغوی چې وایي د سیمه ییزې حکومتولۍ پر پرېکړو لږ یا ډېر اغېز لري، د پام وړ کم دی، په ملي کچه دا شمېر ۵۲.۹٪ دی، او دا په دولتي ادارو کې د هندوانو او سیکهانو د کمزورې استازولۍ ښکارندویي کوي.

## ***اقتصادي وضعیت***

- څلورمه برخه ځواب ورکوونکي (۲۴.۵٪) وایي چې د ساده او لومړنیو خوراکي توکو په رانیولو کې ستونزه لري. په درېوو کې له یوې برخې زیات ځواب ورکوونکي (۳۸.۳٪) وایي چې په سخته کولی شي نوي کالي واخلي او ټولنیزه راشه درشه وکړي، خو کولی شي چې ساده او لومړني خواړه برابر کړي. څلورمه برخه ځواب ورکوونکي (۲۴.۸٪) نشي کولی نوی تلویزیون او یخچال واخلي، خو کولی شي چې ساده او لومړني خواړه وپېري او د ټولنیزې راشې درشې لګښتونه وکړي.

- نږدې ټولو ځواب ورکوونکو (۸۹.۷٪) څرګنده کړې چې دوکان لري یا په دوکان کې کار کوي، د عطارۍ په ګډون، چې دا یې د کورنیو د ګټې مرکزي سرچینه ده. په کوڅو کې کار کول او نورې دندې هم د ګټې سرچینه ښودل شوې دي، خو په ډېره کمه اندازه. کله چې د ګټې د ډول په اړه پوښتنه شوې، چې ورځ مزدوري کوي که میاشتنی معاش اخلي، ډېرو (۴۷.۲٪) وویل چې میاشتنی معاش اخلي او تر دې کمو (۲۲.۲٪) وویل چې ورځ مزدوري کوي، له دې سره توهین او سپکاوی (۱۷.۸٪)، تبعیض او تعصب (۹.٦٪)، ځورونه (٦.۸٪) ښودل شوي. یواځې یوه ځواب ورکوونکي وویل چې د کور یوه ښځینه غړې یې له کوره بهر کار کوي، مهم په ګوته شوي خنډونه چې ښځې له کوره بهر په کار کولو کې ورسره مخامخې دي اجازه نه درلودل یې (۳۸.۱٪) تر ټولو په لوړه کچه او نور یې، بې سوادي (۲۵.۲٪)، ناامني (۱۳.۷٪)، دود او دستور (۱۱.۵٪)

ښودل شوي دي. په نظرپوښتنه کې ډېری هندو او سیکه ځواب ورکوونکي (۸۸.۹٪) وایي چې هیڅکله یې دندې ته غوښتنلیک نه دی ورکړی (د ادغام ځپرکي ته مراجعه وکړئ)

## مدني حقونه

- ۷٪ هندو او سیکه ځواب ورکوونکي وایي چې په کورنۍ کې یې یو چا حقوقي لارو چارو ته مراجعه کړې، تر ټولو عامه قضیه چې د (۵.۹٪) ځواب ورکوونکو له خوا یاده شوې پر مځکې شخړه ده، ورپسې ترافیکي پېښې (۳.۵٪). د شخړې پایله د مخلوط رضایت ښودنه کوي.

- ۱۸.۲٪ وایي چې په زوره اسلام ته بلل شوي دي، او ۶.۵٪ وایي چې د جزیې مالیه یې ورکړې ده. په غزني کې چېرته چې امنیتي وضعیت خراب دی ځواب ورکوونکي ښيي چې تر ټولو ډېرو (۱۱.۹٪) د جزیې مالیه ورکړې ده. د جزیې د مالیې ټولوونکو ډلو یا گوندونو په سر کې طالبان راځي، چې ځواب ورکوونکو ورته اشاره کړې ده. بااعتباره آزادو سرچینو څرگنده کړې چې پر غزني ښار له برید وړاندې د غزني په ښار کې دننه له ځینو سیمو څخه طالبانو مالیه ټولوله.

## کډوالي

- په بشپړه توگه، ۶۰.۷٪ د سروې ځواب ورکوونکو ویلي که موکه پیدا کړي کډوال به شي، په داسې حال کې چې ۳۷.۹٪ ځواب ورکوونکو ویلي، هیواد به پرې نږدي. دا شمېرې په ۲۰۱۸ کال کې د ټولو افغانانو د سروې په پرتله لوړې دي، چې پکې ۳۶.۸٪ ځواب ورکوونکو ویلي، که موکه په لاس ورشي هیواد به پرېږدي.

- کډوالۍ ته د لېوالتیا تر ټولو مهم لامل ناامني/جگړه/ځانمرگي بریدونه (۶۷.۹٪) یاد شوي دي، ورپسې بې کاري (۳۱.۰٪)، تعلیم او د سواد زده کړې لپاره کډوالي (۹۱.۶٪). د هغو ځواب ورکوونکو په منځ کې چې وایي که موکه هم په لاس ورشي هیواد به پرې نږدي تر ټولو لوی لامل یې (۷۸.۴٪) ځواب

ورکوونکـو دا ښـودلی، چـې هیـواد ځکـه نـه پرېږدي چـې افغانـان دي، یـا همدلتـه لـوی شـوي دي، (۲۱.٦٪) ځـواب ورکوونکـو ویـلـي چـې افغانسـتان مـې خوښـېږي یـا افغانسـتان یـو ښـه ځـای دی، نـور لاملونـه لکـه کـه سـوله وای (۹.۸٪)، کـه کار وای (۲.۰٪)، او ٦.۹٪ ځـواب ورکوونکـو ویـلـي، دوی پیسـې نـه لـري ځکـه لـه هیـواده نـشي تللـی.

- د کډوالـۍ لپـاره د خوښـې وړ هیوادونه (۴۵.۲٪) هندوسـتان او پاکسـتان، (۱۹.٦٪) اروپـا، (۱۸.۵٪) کانـاډا، (۱۷.۳٪) انګلسـتان، او (۱۲.۵٪) هرهغـه ځـای چـې هلتـه خوندي اوسـو.

- نروالـی، ډېـر تعلیـم، شـتمني، د هیـواد د مسـیر پـه اړه بدبینـي، وېـره، لـه تبعیـض سره مخامخېـدل، او بهـر د کورنـۍ اوسـېدل هغـه لاملونـه دي چـې کډوالـۍ تـه لـه لېوالتیـا سره تـړلي دي.

***ادغام***

- ډېـرى هنـدو او سـیکهـ کورنـۍ (۸۵.۵٪) لـه نـورو نـژادي ډلـو سره پـه یوځـای سـیمو کـې اوسـېږي، پـه کاري چاپېریـال کـې دغـه تنـوع لا ډېـره (۹۱.۲٪) ده.

- ۳۴.۹٪ ځـواب ورکوونکـي وایـي چـې کلـه کلـه یـا ځینـې وخـت پـه ښـوونځیو کـې لـه تبعیـض سره مـخ شـوي دي، حـال دا چـې ۴۰.۱٪ وایـي پـه ښـوونځي کـې يـې هیـڅ تبعیـض نشـته. پـه پوهنتونونـو کـې پـه درېـوو کـې لـه دوه برخـې زیـات (٦۹.۴٪) وایـي چـې نـه پوهيـږي پـه پوهنتونونـو کـې تبعیـض شـته کـه نـه، ځکـه دوی پوهنتـون تـه نـه ځـي، او (۲۰.۴٪) وایـي چـې هندوانـو او سـیکهانو سره پـه پوهنتونونـو کـې تبعیـض شـته. سربېـره پـر دې (۲۳.٦٪) ځـواب ورکوونکـي وایـي کلـه کلـه یـا ځینـې وخـت پـه ګاونـډ کـې لـه تبعیـض سره مـخ شـوي دي، دې تـه ورتـه (۲۰.۲٪) وایـي چـې کلـه کلـه یـا ځینـې وخـت پـه عمومـي ټرانسـپورټ کـې لـه تبعیـض سره مـخ شـوي دي.

## سپارښتنې

### *دولت ته سپارښتنې*

- ***سیاسي او قانوني حقوق.*** په سیاسي او قانوني پروسو کې د هندوانو او سیکهانو د ګډون پر وړاندې پراته خنډونه له منځه یوسئ. له نورو سره په حقوقي شخړو کې د ملاتړ تر څنګ محکمو ته مساوي لاسرسی مهیا کړئ. هغه ځمکې بېرته ور وسپارئ چې له دوی څخه نیول شوې دي.

- ***ښوونه روزنه او د فرهنګ ساتنه.*** په ښوونځي او پوهنتون کې د برخې اخستنې پر وړاندې خنډونه له منځه یوسئ، او مناسب اقدامات وکړئ، څو ډاډ ترلاسه شي چې د ښوونځي چاپېریال د هندوانو اوسیکهانو لپاره غیر دوستانه نه دی. د ښوونځي نصاب ته بیا کتنه وکړئ چې د ګډ ژوند، زغم او پلورلیزم فرهنګ وغوړوي. د افغانستان د هندوانو او سیکهانو فرهنګ، ژبه، تاریخ او دود دستور وساتئ. د هندوانو او سیکهانو لپاره خوندي چاپېریال یقیني کړئ، چې خپلې مذهبي چارې ترسره کړي، په ځانګړي ډول د جنازې مراسم.

- ***بوختیا چمتو کړئ.*** د کار په بازار او ملکي خدماتو کې د هندوانو او سیکهانو برخې اخستنې ته وده ورکړئ. په عامه او خصوصي سکتور

کې لـه هندوانـو او سـیکانو سره د تبعیـض پـر وړانـدې د هیـڅ زغـم نـه درلودلـو پالیـسي پیـاوړې کـړئ. د هندوانـو او سـیکهانو د کار پـه ځـای کـې د خونـدي چاپېریـال ډاډ ترلاسـه کـړئ.

- ***تنـوع تـه وده ورکـړئ.*** د پلورالیـزم او رنګارنګـۍ پـه برخـه کـې عمـلي نوښـتونه وکـړئ. عامـه غونـډې جـوړې کـړئ چـې د افغانسـتان د مهمـې برخـې پـه توګـه د هنـدو او سـیکهـ افغانانـو پـه هکلـه پوهـاوی زیـات کـړي.

**مدني ټولنې ته وړاندیزونه**

- ***ملاتـړ او تبلیـغ.*** د سروې منځپانګـه، د ارزښـت وړ بصیرت وړانـدې کـوي، چـې هنـدوان او سـیکهان څنګـه درک لـري او سـتونزې او لومړیتوبونـه یـې کـوم دي. د دې رپـوټ موندنـې و کاروئ چـې د هندوانـو، سـیکهانو او نـورو مذهبـي او قومـي اقلیتونـو د حقونـو پـه ښـه توګـه دفـاع وکـړئ. د هندوانـو او سیکهانو د وضعیـت څارنـه وکـړئ او ځـان تـرې خـبر کـړئ او د وضعیـت د ښـه والي لپـاره یـې کمپایـن وکـړئ.
- ***د دولـت ملاتـړ وکـړئ.*** دا مهمـه ده چـې بدلونونـه وڅـارئ او پـه دولـت کـې لابي وکـړئ، چـې نوښـتونه پـلي کـړي. دا هـم ډېـره مهمـه ده چـې د هندوانـو او سـیکهانو اړونـد د نوښـتونو او د هڅـوی د ګـډون د ملاتـړ پـه برخـه کـې د حکومـت او نـورو خـواوو د هڅـو ملاتـړ وکـړئ. د اړونـد حقوقـي چارچـوکاټ، بالقـوه قوانینـو او مقرراتـو د پیاوړتیـا پـه برخـه کـې اړینـه ده چـې مـدني ټولنـه لـه افغـان دولـت سره ګـډ کار وکـړي.
- ***پروګـرام.*** د سـتونزو او مسـائلو اړونـد د سروې د موندلـو پـه کارولـو سره ابتکاراتـو او پـروژو تـه پراختیـا ورکـړئ. د سروې د مهمـو موندنـو پـر بنسـټ جـوړ شـوي پروګرامونـه بـه دا امـکان زیـات کـړي چـې د هندوانـو او سـیکهانو د ټولنـې سـتونزې او اړتیـاوې پـه نښـه شي.
- ***مسـئولیت منونکـې اوسـئ.*** د بـشر حقونـو د سرغړونـو هـره بڼـه لکـه د قتـل، د ځمکـې د غصـب، او د هندوانـو او سـیکهانو پـر وړانـدې د

تاوتریخوالي قضیې مستندې کړئ. د عمومي او بین المللي جوړښتونو سره په اړیکه کې شئ، چې افغان دولت د هندوانو او سیکهانو او نورو اقلیتونو پر وړاندې خپلو الزاماتو ته مسئول کاندي.

- ***تنوع دود کړئ.*** تنوع ته د ودې ورکولو او په ټولنه کې د ګډ ژوند لپاره عملي ابتکارات تر لاس لاندې ونیسئ، لکه عامه مباحثې ترتیبول، خبرې اترې او کنفرانسونه. هغه بنسټي مسئله چې د افغانستان هندوان او سیکهان ورسره مخامخ دي د ټولنیزې تنوع او رنګارنګۍ پر وړاندې د ټولنیز زغم کمه کچه ده.

***ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې ته وړاندیزونه***

- ***مسئولیت منونکي اوسئ.*** لوري وڅارئ چې افغان دولت د مذهبي او قومي اقلیتونو د ساتنې اړوند د کنوانسیون له چارچوکاټ سره سم د مذهبي او قومي اقلیتونو په برخه کې ځواب ورکوونکی اوسي او د وضعیت رپوټ ورکړي.
- ***ملاتړ وکړئ.*** د هغو ابتکاراتو په برخه کې سرچینې او بودجه ځانګړې کړئ چې په ټوله کې د هندوانو او سیکهانو وضعیت ښه کولی شي. د هغو ابتکاراتو ملاتړ هم باید وشي چې په ټولنه کې د زغم د نشتوالي او تاوتریخوالي اصلي ریښې په نښه کوي. د ټولنیزو ابتکاراتو او ملاترونو پیژندل چې د یو شمېر ننګونو په نښه کولو کې یې بریالیتوب ترلاسه کړی.

رنګارنګي (تنوع) دود کړئ. ملګري ملتونه او نړیواله ټولنه دې د خپل نړیوال دریځ په کارولو سره داسې فعالیتونه پیل کړي چې په افغان ټولنه او دولت کې تنوع او زغم پیاوړي کړي. داسې فعالیتونه وکړي چې افغانان له نورې نړۍ سره ونښلوي او داسې فرهنګ وروزي چې په افغانستان کې زغم او تنوع منل دود کړي.



## سريزه:

افغانستان له بېلابېلو قومونو، ژبو او باورونو سره يو متکثر هېواد دی. پښتون، تاجيک، هزاره او ازبک د دې هېواد څلور لوی قومونه جوړوي. د بېلابېلو قومي ډلو غړي په بېلابېلو ژبو او لهجو خبرې کوي؛ بېلابېل دودونه، سنتونه او حتا بڼې لري. د يادو څلورو قومونو سربېره نورې وړې قومي ډلې هم په دې خاوره ژوند کوي چې ترکمن، بلوچ، پشه‌يي، نورستاني، ايماق، عرب، قرغيز، قزلباش، گوجر، براهوي او نور قومونه پکې دي.[۱]

د يادې تنوع او اتکثر تر څنگ، دين د افغانانو تر منځ پياوړی او نښلوونکی نقش لوبوي. نږدې د افغانستان ټول وگړي د اسلام پيرو دي او اسلام د هېواد رسمي دين دی.[۲] د هندوانو، سيکهانو، بهايانو، يهودو او مسيحيانو په گډون د نورو دينونو پيروان د دې هېواد ۳ فيصده جوړوي. د ديني اقليت دغه ډلې عملاً په افغانستان کې د ژوند له ډېرى چارو محروم دي.[۳]

په تېر کې د هندوانو او سيکهانو د پام وړ نفوس په افغانستان کې ژوند کاوه. هغوی ډېری په کابل، لوگر، پروان، کندهار، کندوز، ننگرهار، لغمان، غزني، هلمند او پکتيا ولايتونو کې اوسېدل. خو د اتيايمې ميلادي لسيزې له پيل څخه چې د مجاهدينو حکومتونه او ورپسې يې د طالبانو رژيم واک ترلاسه کړ،

---

۱. د اسلامي جمهوري افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲). مادۀ ۴، بند ۱.
http//:www.afghanembassy.com.pl/afg/images/pliki/TheConstitution.pdf

2. Marseden, Peter, "Afghanistan: Minorities, Conflict and the Search for Peace." Minority Rights Group International, November 2001. Accessed on December 15, 2018. https://minorityrights.org/wp-content/uploads/old-site-downloads/download-132-Afghanistan-Minorities-Conflict-and-the-Search-for-Peace.pdf

3. US Department of State, "International Religious Freedom Report for 2015, Afghanistan," (Section I), August 2016. Retrieved on December 16, 2018 from: http://www.state.gov/j/drl/rls/irf/religiousfreedom/index.htm?year=2015&dlid=256299

د افغانستان ډېری هندوانو او سیکهانو افغانستان پرېښود. دا مهال، کم شمېر هندوان او سیکهان په کابل، غزني او ننگرهار او ډېر کم د هیواد په نورو ولایتونو کې خواره واره پراته دي. د افغانستان دا هیوادوال معمولاً د همغو محلي خلکو پر ژبه خبرې کوي چېرته چې دوی اوسیږي.

خو د یادونې وړ ده چې له کندهار مېشتو سکهانو پرته چې د هغوی اصلي ژبه سندي او ریاستي ده، د هندوانو مورنۍ ژبه هندي او لهنده او د سیکهانو مورنۍ ژبه پنجابي ده.[۱]

په افغانستان کې پر دیني اقلیتونو، په ځانگړې ډول پر هندوانو او سیکهانو ظلم، اوږد تاریخ لري. هندوان او سیکهان د خپلو دیني باورونو له امله په سیستماتیک ډول د افراطي اسلامپالو او سیاسي احزابو له خوا په نښه شوي دي.[۲] په ۱۹۸۹ کال کې د مجاهدینو له واکمنېدو او ورپسې په ۱۹۹۴ کال کې د طالبانو له راپیدا کېدو وړاندې، هندوان او سیکهان د هیواد په سیاست، ټولنې او اقتصاد کې شریک او دخیل ول؛ په ځانگړې ډول په شلمه میلادي پېړۍ کې. د نړیوالې ټولنې او له طالبانو وروسته د ولسواک دولت له پرله پسې هڅو سره سره، هندوانو او سیکهانو و نشول کولی هغه هوساینه چې په مخکنیو لسیزو کې یې درلوده، بیا لاسته راوړي.

برعکس، دوی د حقوقي محدودیتونو او له خصومت ډکو ټولنیزو اړیکو له امله له خپلو اساسي حقونو څخه محروم پاتې شوي. ورسره، یوه بله څېړنه چې د شایگان او عمار له خوا ترسره شوې، ښیي چې د افغانستان حقوقي نظام په عامه توگه، او اساسي قانون، مدني قانون او د افغانستان د جزایي اجرااتو قانون په خاصه توگه، له هندوانو او سیکهانو سره تبعیض روا گڼي.

د افغانستان له اوسني اساسي قانون سره سم، یو هندو یا سیکھ نشي کولی جمهوري ریاست یا د جمهوري ریاست مرستیالۍ ته نوماند شي او هم نشي کولی د سترې محکمې غړیتوب ترلاسه کړي. د افغانستان د جزایي اجرااتو قانون سره سم، د هندوانو او سیکهانو د شخصیه احوالو قضیې له اسلامي شریعت سره سم حل و فصل کیږي.[۳] په وروستیو کې په جلال آباد ښار کې د هندوانو او سیکهانو یو لاریون د ځانمرگي برید هدف وگرځېد، چې پکې د اوتار سینگ په گډون چې د هندو او سیکھ ټولنې څخه یواځنی د پارلماني ټاکنو نوماند او یو مشهور مدني فعال و، ۱۹ تنه سیکھ او هندو هیوادوال ووژل شول.

1. Emadi, Hafizullah, "Minorities and marginality: pertinacity of Hindus and Sikhs in a repressive environment in Afghanistan." Nationalities Papers 42 (2014): p-310.
2. Emadi, Hafizullah, "Minorities and marginality: pertinacity of Hindus and Sikhs in a repressive environment in Afghanistan." Nationalities Papers 42 (2014): p-308.
3. Shayegan, Ehsan and Ammaar, Yahya. "Ignored Identities: The Status of Hindus and Sikhs in Afghanistan's Legal System," Porsesh Research and Studies Organization, (page 6), 19 November 2016, http://www.porseshresearch.org/porseshv2/wp-content/uploads/2016/11/Ignored-Identities-Status-ofHindus-and-Sikhs-in-Afghanistans-Legal-System.pdf, date accessed 29 December 2018.

د زورولو، ټکولو او حق خوړلو له امله د افغانستان یو شمېر هندوانو او سیکهانو په کابل کې د ملګرو ملتونو سازمان دفتر ته مراجعه وکړه او له دې سازمان څخه یې د ډلهییز مهاجرت لپاره مرسته وغوښته.[۱]
د افغانستان د هندوانو او سیکهانو ډله ییز مهاجرت یوه ضایعه ده چې نه یوازې د ملکیت، کسب و کار، کور او ځمکې له لاسه ورکولو باندې تمامیږي، بلکې د نورو ټولو بې ځایه شویو په څېر خامخا د دوی د فرهنګ او هویت د لاسه ورکولو لامل هم کیږي.[۲] د افغانستان هندوانو او سیکهانو ټولنه له خپلو اساسي حقونو محرومه ده. د دوی ماشومان نشي کولی د پخوا په څېر ښوونځي ته ولاړ شي د دې ټولنې غړي پر سیاسي مقامونو نه لیدل کیږي او د هرې ورځې په تېرېدو یې نفوس لا کمیږي؛ ځکه دوی افغانستان پرېږدي او نورو هیوادونو ته ځي، او په وروستیو میاشتو کې د دوی نفوس د پام وړ کم شوی دی.[۳]
د دوی د زورولو سره سره، د افغانستان ډېری هندوانو او سیکهانو افغانستان نه دی پرېښی او لا هم دا هیواد خپل ریښتینی ټاټوبی ګڼي. له بل پلوه، په افغانستان کې د قومي-مذهبي شخړو اړوند په ادبیاتو او څېړنو کې د هندوانو او سیکهانو موضوع چندان نه ده مطالعه شوې.[٤] له همدې امله دا نظر پوښتنه د هندوانو او سیکهانو د وضعیت د ښه درک په موخه او هم د دوی د ژوند د شرایطو د روښانه تصویر وړاندې کولو په پار ترسره شوې ده.

## *د افغانستان د هندوانو او سیکهانو مخینې ته کتنه*

د افغانستان د هندوانو او سیکهانو د منشاء په اړه بېلابېل روایتونه شته. غالب روایت وایي، دې ته په کتو، چې د افغانستان هندوان او سیکهان د هندوستان له خلکو سره دیني ورته والی لري، د دوی منشاء هند دی. په داسې هیواد کې چې له ۹۹ فیصدو زیات خلک یې مسلمانان دي، په اسانۍ سره کېدای شي چې د مذهبي او ژبني یووالي په دلیل د دې هیواد هندوان او سیکهان هندوستان ته منسوب کړو. دا فرضیه د مارکویتز تاریخي څېړنه هم تایدوي. په دې څېړنه کې مارکویتز وضاحت ورکوي چې څنګه هندو او سیکهـ کروندګرو د ۱۸۷۰ میلادي لسیزې په لومړیو کې د سند له شمالي سیمې (اوسنی پاکستان) او د کندهار، کابل او مزار شریف له لارې له منځني آسیا، په ځانګړې ډول سمرقند او بخارا سره سوداګریزې راکړې ورکړې پیل کړې. مارکویتز وضاحت ورکوي چې دا کروندګر د شکارپور اوسیدونکي

1. Abbot, Malanie, "Why are Afghan Sikhs desperate to flee to the UK?" BBC News, September 4, 2018. Accessed on December 20, 2018. https://www.bbc.com/news/uk-england-29062770
2. Singh, Primender. "What Remains ('Even Now When I Sleep My Dreams Are of Jalalabad')." Sikh Formations 13 (2017): 78-83.

۳. له روچي کمار سره مرکه. ۲۰۱۸ د نومبر ۱.
٤. هماغه منبع.

ۇ او له اوږدو سوداګریزو سفرونو وروسته به کورونو ته ستنېدل.
بل روایت دا دی چې د افغانستان یو شمېر سیکهان د سیمې خلک ۇ چې په دولسمې او دیارلسمې میلادي پېړیو کې افغانستان ته د اسلام په راتلو په زوره اسلام ته د اوښتلو سره یې مقاومت وکړ او کله چې ګرونانک په پینځلسمه میلادي پېړۍ کې دې سیمې ته راغی، د سیکهانو دین ته واوښت.[1]
دا مهال په جلال آباد ښار کې د سیکهانو یو معبد د ګورو نانک د دربار په نوم شته چې د دې دین پیروان د ګورو نانک د زېږېدو ورځ هر کال د درې ورځو لپاره لمانځي. په تېر کې، د افغانستان د نورو ولایتونو سیکهان په اته ورځني جشن کې د ګډون لپاره جلال آباد ته تلل او د اتو ورځو لپاره هلته اوسېدل؛ خو اوس د نامناسب امنیتي وضعیت له امله دا جشن ډېر په محدود ډول جوړېږي.[2]
د افغانستان د هندوانو او سیکهانو اړوند یو بل روایت د ډاکټر روژر بالارد په څېړنو کې راغلی. ډاکټر بالارد عقیده لري چې د افغانستان د هندوانو او سیکهانو منشاء د ټیټې کچې ټولنه وه، چې د ډیورنډ کرښې شاوخوا، پنجاب او ټول افغانستان کې یې ژوند کاوه. خو د دې روایت له توضیح وروسته ډاکټر بالارد نتیجه اخلي چې د ټېټې کچې قوم (چې له هندوستان څخه د هندوانو او سیکهانو مهاجرت ته اشاره کوي) یو جعلي داستان دی، چې د دې ټولنې د مصئونیت لپاره جوړ شوی دی، او دا تاریخي واقعیت یې پټ کړی دی، چې له نهمې تر دولسمې پېړۍ پورې په زوره د اسلام دین ته له اوښتلو سره د دې سیمې اصلي اوسیدونکو مقاومت کړی.
پروفیسر بلارد وضاحت ورکوي چې (د افغانستان هندوان او سیکهان په هیڅ معنا «هندي» نه دي؛ بلکې دوی د دې پراخې سیمې اصلي اوسیدونکي دي، چې په دې وروستیو کې د «افغانستان-پاکستان» په نوم یادیږي. (تر همدې وروستیو پورې هندوان او سیکهان د دې سیمې د ټولنیز نظم مهمه برخه وه.)[3]
خو د افغانستان ډېری سیکهان د دې ټاټوبي د هغو اصلي اوسیدونکو لمسیان دي چې په پینځلسمه میلادي پېړۍ کې افغانستان او ایران ته د سیکهانو د لومړي لارښود ګورو نانک د سفر په بهیر کې د هغه لارښوونو او آیین ته واوښتل. په ۱۹۴۷ کال کې کله چې پاکستان نوی تاسیس شوی و د پوتوهار د سیمې سیکهانو، د غیر مسلمانانو د زورولو له امله او له هند څخه د پاکستان د بېلېدو په کش وګیر کې افغانستان ته مهاجر شول، د افغانستان د سیکهانو نفوس زیات شو.[4] همدارنګه د یادونې وړ ده چې

1. Singh, Primender. "What Remains ('Even Now When I Sleep My Dreams Are of Jalalabad')." Sikh Formations 13 (2017): 78-83.
2. Daily Sikh Updates. "Historical Gurdwara Sahib in Afghanistan, Video, directed by Pritpal Singh (March 2014) http://dailysikhupdates.com/historical-gurdwara-sahib-in-afghanistan-video/
3. Ballard, Roger. "The History and Current Situation of Afghanistan's Hindu and Sikhs Population." Center for Applied South Asian Studies, (2011).
4. Singh, Jasjit. "Explainer: who are the Afghan Sikhs?" The Conversation, August 21, 2014. De-

مهاراجه رنجیت سینګهـ (۱۷۸۰-۱۷۳۹) یو شمېر هندوان او سیکهان په ۱۸۲۰ لسیزه کې د جنوبي آسیا او مرکزي آسیا تر منځ د تجارتي لارو د رامنځته کولو لپاره دې سیمې ته ولېږل او د وخت په تېرېدو هغوی په جلال آباد او غزني کې مېشت شول او د دې هیواد د خلکو برخه شول.[1] داسې ادعاوې هم شته چې د دې خطې حاکمانو د غیر اسلامي دینونو پیروان اسلام ته په اوښتلو نه اړیستل، ځکه د نورو دینونو پیروانو دې حاکمانو ته جزیه ورکوله.[2]

که څه هم د افغانستان په رسمي تاریخ‌لیکنه کې ځانګړې سلیقې او سیاسي نفوذ اغېز درلود، پیاوړې تاریخي او لرغونپیژندي نښې شته، او دا ثابتوي چې هندوان او سیکهان د دې خطې اصلي اوسیدونکي ؤ او تاریخ یې شپږمې او ومې میلادي پېړۍ ته رسیږي. اوسني هندوان د هغو لرغونو هندوانو لمسیان دي چې اسلام ته وا نه وښتل. دا مسئله د نوموتو تاریخ لیکونکو لکه علي احمد سلجوقي او فیض محمد کاتب له خوا هم تایید شوې ده.[3]

حتی په کابل کې د ځینو سیمو نومونه هم په دې سیمه کې د هندویزم د فرهنګ پر مخینه دلالت کوي. د بېلګې په توګه په کابل کې یو غر د «آسمایي» په نوم دی؛ په داسې حال کې چې «آسمایي» کلمه د هندوانو په فرهنګ کې ریښه لري او «د هیلې مور» معنی لري. «مرنجان تپه» او «شکر دره» هم په یو ډول د هندوانو له فرهنګ سره اړیکه لري.[4]

په هر صورت، دا نظر پوښتنه اراده نه لري چې د دې ټولنې د راټوکېدو او مخینې په اړه تر دې زیات څه ووایي. د دې رسالې موخه دا ده چې د بشپړې نظرپوښتنې او کلیدي مرکو له لارې د افغانستان پر هندو او سیکهـ ټولنې رڼا واچوي.

cember 25, 2019. http://theconversation.com/explainer-who-are-the-afghan-sikhs-30699

1. Kaur, J. and Singh, B. (2018). Anticipated Extinction of Afghan

2. Emadi, Hafizullah, ''Minorities and marginality: pertinacity of Hindus and Sikhs in a repressive environment in Afghanistan.'' Nationalities Papers 42 (2014): p-309.

۳. له ایشوار داس سره مرکه. فرانکفورت. ۱۰ نوامبر ۲۰۱۸.

٤. له رهنورد زریاب سره مرکه. کابل. ۱۷ نوامبر ۲۰۱۸.

## ملي روحیه او ټولیز وضعیت


### د هیواد په اړه خوشبیني

**کلیدي پوښتنه:**

۱ پوښتنه: ستاسو د شخصي تجربې پر اساس، ستاسو په نظر افغانستان په ټوله کې په سم لوري روان دی که په ناسم؟


د هیواد د حرکت د مسیر په اړه د افغانستان د هندوانو او سیکهانو د خوشبینۍ کچه د دې هیواد د نورو خلکو په پرتله د پام وړ ټیټه ده. د افغانستان د هندوانو او سیکهانو پرېکنده اکثریت (۸۱.٦٪) پر دې باور دي چې افغانستان په ناسم لوري روان دی؛ په داسې حال کې چې یواځې (۱۳.۱٪) یې فکر کوي چې افغانستان په ښه لوري درومي. د افغانستان د خلکو وروستۍ نظرپوښتنه چې د آسیا بنسټ له خوا په ۲۰۱۸ کال کې شوې ښیي، چې د افغانستان د (۳۲.۸٪) خلکو په نظر هیواد په سم لوري روان دی؛ په داسې حال کې چې (٦۱.۳٪) هیوادوال فکر کوي دا هیوواد په ناسم لوري روان دی.[1] دا ښیي چې خوشبیني او عمومي روحیه د افغانستان د هندو او سیکهـ هیوادوالو په منځ کې ډېره ټیټه ده. د یادونې وړ ده، چې د ډله ییز مهاجرت کچه هم د افغانستان د دې شمېر هیوادوالو تر منځ په وروستیو کلونو کې پورته وه.

1. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf




د افغانستان اکثریت هندو او سیکهـ هیوادوال په کابل، ننگرهار او غزني ولایتونو کې ژوند کوي؛ هغه هم په غالب گومان په ښاري سیمو کې. حتا په همدې ولایتونو کې هم د هندوانو او سیکهانو نفوس په تېزۍ سره د کمېدو په حال کې دی او د مهاجرت کچه په لوړېدو ده. که څه هم د دې نظر پوښتنې نږدې ټول ځواب ورکوونکي د هیواد د حرکت د مسیر په اړه منفي نظر لري، خو زموږ موندنې ښیي چې کابل مېشت هندوان او سیکهان د نورو په پرتله زیاته خوشبیني لري، په داسې حال کې چې د غزني مېشت هندوان او سیکهان برعکس فکر کوي. له غزني ولایت څخه ډېری ځواب ورکوونکي ۸۷.۸٪ چې د دې سروې له ترسره کېدو دوه میاشتې وړاندې د ۲۰۱۸ کال د اگست په میاشت کې د طالبانو د سخت برید شاهدان ؤ، څرگنده کړه چې هیواد په ناسم لوري درومي؛ یواځې ۷.۳٪ ځواب ورکوونکو دې پوښتنې ته مثبت ځواب ورکړ.[1] په ورته توگه په ننگرهار کې هم ۸۷٪ ځواب ورکوونکو د هیواد د حرکت د مسیر په اړه منفي نظر درلود؛ په داسې حال کې چې یواځې ۱۳٪ په دې اړه د خوشبینۍ څرگندونه وکړه. په کابل کې هم ۷۲.٦٪ ځواب ورکوونکو د افغانستان د مسیر په اړه منفي نظر درلود او یواځې ۱۷.۹٪ مثبت نظر څرگند کړ.

1. Rod Nordland & Fahim Abed, "Taliban Launch Assault on Ghazni, a Key Afghan City", The New York Times, August 10, 2018: https://www.nytimes.com/2018/08/10/world/asia/afghanistan-taliban-ghazni.html




زموږ د موندنو پر بنسټ، د هیواد د حرکت د مسیر په اړه د هندو او سیکهـ ځواب ورکوونکو برداشت، مهاجرت ته د دوی له لېوالتیا سره مخامخ او پیاوړې اړیکه لري.[1] خو، جالبه ده چې د همدې موندنو سره سم، د ځواب ورکوونکو د خوشبینۍ او اقتصادي عواملو، ټولنیز ادغام، سیاسي ګډون او امنیت سره هیڅ اړیکه نه لیدل کیږي. دا موندنې تر ډېره حده د افغانستان د خلکو د نظر پوښتنې له موندنو سره چې د آسیا بنسټ له خوا په ۲۰۱۸ کال کې ترسره شوې په تناقض کې دي، ځکه د هغې نظر پوښتنې موندنې ښیي چې د اقتصادي، ټولنیزو او امنیتي عواملو او د خوشبینۍ د کچې تر منځ پیاوړې اړیکه شته.[2] کولی شو له دې تفاوت څخه دا نتیجه ترلاسه کړو چې د افغانستان د هندو او سیکهـ هیوادوالو تجربه د دې هیواد د نورو خلکو په پرتله متفاوته ده.

1. Pearson chi2(1) = 7.8250, Pr = 0.005
2. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf


## د خوشبينۍ *او* بدبينۍ دلايل

### کليدي پوښتنې


۲ پوښتنه: (که د لومړۍ پوښتنې ځواب «سم مسير» وي) که تاسو فکر کوئ افغانستان په سم لوري ران دی، دوه دلايل يې ووایاست.

۳ پوښتنه: (که د لومړۍ پوښتنې ځواب «ناسم مسير» وي) دوه عمده دلايل چې تاسو فکر کوئ افغانستان په ناسم لوري روان دی، ووایاست.

له ۱۳.۱٪ هندو او سیکھ هیوادوالو څخه چې د هیواد د حرکت مسیر سم ګڼي، دلایل یې عمدتاً پرمختګ او د هیواد د وضعیت ښه والی ۴۳.۲٪ او د امنیتي وضعیت ښه والی او د جګړې ختمېدل ۳۵.۱٪ دي؛ په داسې حال کې چې کم شمېر ۱۰.۸٪ یې د خپلې خوشبینۍ په دلیل نه پوهیږي. د پرمختګ او د امنیتي وضعیت له ښه والي پرته دې پوښتنې ته نور ځوابونه وضاحت نه لري او جالبه ده چې هیڅ ځواب ورکوونکی د خوشبینۍ د دلیل په توګه اقتصادي وضعیت او حکومتداري نه یادوي. په ملي کچه، د خوشبینۍ عمده دلایل ښه امنیتي وضعیت، بیا ودانې\آبادي او په حکومتدارۍ کې ښه والی دي. له دې څخه کولی شو نتیجه ترلاسه کړو چې د هندوانو او سیکهانو د استوګنې په سیمه کې انکشافي پروژې ډېرې کمې پلې شوې دي. له دې امله چې د دې نظر پوښتنې د ځواب ورکوونکو شمېر کم و، د ولایت، جنسیت او نورو عواملو له امله د خوشبینۍ له دلایلو تېرېږو.




د ۸۱.۶٪ ځواب ورکوونکو له منځه چې باور يې درلود هيواد په ناسم لوري روان دی، ۹۰.۴٪ يې عمده دليل ناامني\جګړه\ځانمرګي بريدونه ګڼي. نور دلايل بيکاري (۱۹.۶٪) او فقر\کمزوری اقتصاد (۸.۳٪) دي، چې د ځواب ورکوونکو له خوا په ګوته شوي. د افغانستان د خلکو له نظر پوښتنې سره سم چې په ۲۰۱۸ کال کې د آسيا بنسټ له خوا خپره شوې، ناامني د افغانستان د ټولو هيوادوالو له خوا هم د بدبينۍ د تر ټولو عمده دليل په توګه ياده شوې ده.[۱]




که د بدبينۍ دلايل د ولايت پر بنسټ په مقايسوي توګه ووينو، په کابل ولايت کې ناامني\جګړه\ځانمرګي بريدونه د نورو ولايتونو په پرتله له کم شمېر (۸۵.۷٪) لخوا د بدبينۍ د عمده دليل په توګه ياد شوي دي؛ په داسې حال کې چې په کابل کې د نورو ولايتونو په پرتله ډېرو ځواب ورکوونکو ۲۳.۴٪ بيکاري د عمده دليل په توګه ياده کړې. په غزني ولايت کې اداري فساد (۱۴.۱٪) او په ننګرهار ولايت کې فقر\اقتصادي کمزوري ۱۵٪ د نورو دلايلو په نسبت زيات ياد شوي. ښځو ځواب ورکوونکو (۹۶.۴٪) له نارينه ځواب ورکوونکو زيات (۸۴.۵٪) ناامني\جګړه\ځانمرګي بريدونه د هيواد د حرکت د لوري په اړه د بدبينۍ عمده دليل ښودلی. له بل پلوه، نرانو اداري فساد\رشوت ۱۳.۸٪، له ښځو زيات ۰.۹٪ ياد کړی. دا موضوع د حيرانتيا وړ نه ده ځکه ښځې کمې له کوره بهر ځي او تلويزيون د خپلو معلوماتو د عمده سرچينې په توګه ځاري. خو نران له ګاونډيانو، عامو خلکو او مقاماتو سره ډېر تعامل لري.

---

۱. يادښت: فيصدي سل في صدو ته رسيږي، ځکه هر ځواب ورکوونکي تر دوو ځوابونو ورکړي دي.




## *د هندوانو او سیکهانو پر وړاندې ستونزې*

### کلیدي پوښتنه


۴ پوښتنه: ستاسو په نظر، ستاسو د ټولنې پر وړاندې تر ټولو لویې ستونزې کومې دي؟

۵ پوښتنه: ستاسو په نظر، ستاسو د ځوانانو پر وړاندې دوه لویې ستونزې کومې دي؟ له ځوانانو مې منظور د ۱۵ او ۲۴ کلونو تر منځ دي. دویمه ستونزه څه ده؟

٦ پوښتنه: په دې سیمه کې ستاسو د ښځو پر وړاندې عمده ستونزه څه ده؟ (که ستونزه وي) دویمه ستونزه څه ده؟

کله چې له ځواب ورکوونکو مشخص د هندو او سیکهـ ټولنې پر وړاندې د پرتو ستونزو په اړه و پوښتل شول، په ځواب کې یې بیکاري (۳٦.٦٪)، ښوونځي ته د لاسرسي محدودیت یا ښوونځي ته د تلو توان نه لرل (۲۷.۱٪)، ناامني\اجګړه (۲۴.۳٪)، او تخاصم او ناوړه چلند (۱.۲٪) یاد شول. ټولو ته ښکاره ده چې هندو او سیکهـ زده کوونکي په ښوونځیو کې زورول کیږي او اړ دي چې یو شمېر مضامین چې د دوی له عقیدتي باورنو سره تضاد لري، ولولي. له بصیر حمیدي سره په یوه مرکه کې مرحوم روال سینګهـ د خپلو ماشومانو د نامعلومې راتلونکې په اړه اندېښنه ښودلې وه. په هغې مرکه کې روال سینګهـ ویلي و


چې تر ټولو لویه ستونزه دا ده چې ماشومان یې نشي کولی په ذهني آرامتیا سره ښوونځي ته ولاړ شي.[۱] د دې نظر پوښتنې موندنې همدا راز ښیي چې هندوان او سیکهان د کور په کرایه کولو او د سیکهانو له محلي د باندې په ژوند کولو کې هم له ستونزې سره مخ دي.




کله مو چې د هندو او سیکهـ ځوانانو پر وړاندې د ستونزو په اړه وپوښتل، تر ټولو لویې ستونزې چې ځواب ورکوونکو مطرح کړې داسې وې: نشي کولی ښوونځي ته لاړ شي\ښوونیزې آسانتیاوې نشته\بې سواده پاتې شوي (٦٧.٦٪) او بیکاري (۴۸.٦٪) . د یادونې وړ ده چې په ملي کچه هم د ځوانانو پر وړاندې تر ټولو لویه ستونزه بېکاري ده، خو د زده کړې او تحصیل اړوند ستونزې عمده ستونزې نه دي. ځکه چې زده کړه او تعلیم په افغانستان کې وړیا دي، ښوونځي ته تلل د ټولو خلکو لپاره جدي مسئله نه ده، خو د هندوانو او سیکهانو لپاره مسئله توپیر لري، ځکه دوی له یو اړخه اړ دي هغه مضامین ولولي چې له عقایدو سره یې ټکر لري او له بل پلوه په ښوونځیو کې زورول کیږي.

---

۱. له بصیر حمیدي سره مرکه. کابل. ۲۹ نوامبر ۲۰۱۸.





پر دې ستونزو سربېره، په غزني ولایت کې د هندوانو او سیکهانو یو استازي وویل چې که څه هم دولت یو شمېر ښوونځي ورته جوړ کړي، خو هندو او سیکهـ ځوانان د ناامنۍ له امله نشي کولی په دې ښوونځیو کې درس ولولي.[1] په عین حال کې، دې واقعیت ته په پام سره چې کم شمېر هندو او سیکهـ ځوانان ښوونځي ته ځي، د زده کوونکو کمښت هم د دې ښوونځیو د فعالیت د نشتوالی دلیل دی.[2]

د پورته ټولو ستونزو تر څنګ د هندو او سیکهـ هیوادوالو یوه تر ټولو لویه ستونزه د ښوونځیو د درسي نصاب منځپانګه ده. روچي کمار له موږ سره د یوې مرکې په ترځ کې څرګنده کړه، چې له روال سینګهـ او په معبد کې له نورو هندوانو او سیکهانو سره د نوموړي د خبرو پر بنسټ هغوی ویل چې په ښوونځیو کې د هندوانو او سیکهانو تاریخ نه تدریسیږي؛ ښوونځي پلورالیست چلند نه لري او ډېر کم افغانان د افغانستان د هندوانو او سیکهانو د تاریخ په اړه معلومات لري. حتا خپل ماشومان یې د خپل تاریخ په اړه په څه نه پوهیږي؛ په همدې دلیل دوی د افغانستان ښوونیز نظام ناقص ګڼي او د خپلو ماشومانو لپاره یې په خپلو معبدونو کې ځانګړي ښوونځي جوړ کړي.[3] په ښوونځیو کې له زور ویلو او زورولو سره د هندو او سیکهـ ماشومانو مخامخېدل هم زمونږ د ځانګړو مرکو له لارې د دې ټولنې د غټې ستونزې

۱. له دلیپ سینګـ سره مرکه. غزني. ۲۳ نوامبر ۲۰۱۸.
۲. له روچي کمار سره مرکه. کابل. ۱ نوامبر ۲۰۱۸.
۳. له روچي مار سره مرکه. کابل. ۱ نوامبر ۲۰۱۸.

په توګه یاد شول.

هغه ستونزې چې هندو او سیکهـ ښځې ورسره لاس و ګریوان دي، له نورو ډېر کم توپیر لري. د دې نظر پوښتنې د ځوابونو په استناد، د هندو او سیکهـ ښځو عمده ستونزې د آزادۍ نشتوالی او له کوره د وتلو اجازه نه درلودل (۴۰.۵٪)، ښوونځي ته د تګ د امکان نشتوالی\د ښوونیزو او تحصیلي آسانتیاوو نشتوالی (۳۵٦٪) او ناامني\جګړه (۱۲٪) دي. د تګ راتګ له آزادۍ څخه محرومیت هغه ستونزه ده چې ښځې په ټول افغانستان کې ورسره مخامخې دي؛ خو د هندوانو او سیکهانو په منځ کې دا ستونزه ډېره ده. شاید یو دلیل یې خپله د هندو او سیکهـ ښځو له خوا د دوی خپل محدودیتونه وي، چې له زورولو وېره لري. ښوونې او روزنې ته د لاسرسي اړوند ستونزې په ملکي کچه د افغانستان د ښځو پر وړاندې ستونزه ده، په داسې حال کې چې د هندو او سیکهـ ښځو لپاره تر ټولو عمده ستونزه شمېرل کیږي.[1]




1. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf

## امنیت

وروسته له دې چې شاه امان الله خان د خپلې واکمنۍ پر مهال نوي اصلاحات وړاندې کړل، د ظاهر شاه د سلطنت پر مهال (۱۹۳۳-۷۳) د هندوانو او سیکهانو ژوند د نسبتاً ښه رونق شاهد و. په ۱۹۴۷ کال کې له هندوستانه د پاکستان د بېلېدو پر مهال ډېری هندوان او سیکهان د نن ورځې د پاکستان د پوټوهار په سیمه کې له زورولو څخه افغانستان ته مهاجر شول؛ په همدې دلیل د افغانستان د هندوانو او سیکهانو نفوس زیات شو.[1] د داود، ببرک کارمل او ډاکټر نجیب الله د حکومتونو پر مهال چې د پخواني شوروي طرفدار ؤ، هم د افغانستان د هندوانو او سیکهانو نفوس په زیاتېدو و. لکه څنګه چې یاد رژیمونه سیکولار ؤ، د افغانستان هندوان او سیکهان له خپلې آزادۍ برخه من ول او د سوداګرۍ او درملو په برخو کې یې وده وکړه.

د امریکا د متحدو ایالتونو او پخواني شوروي اتحاد د رقابت د ښې په بدلون سره، په اتیایمه میلادي لسیزه کې امریکا او پاکستان د مجاهدینو له ځواکونو څخه ملاتړ وکړ، چې ډېری یې د افغانستان له کلیو راپورته شوي ؤ او د پخواني شوروي اتحاد پر وړاندې جنګېدل. د دې جګړې تر شا چې کومه مفکوره وه د اسلام په بنسټپاله تفسیر کې یې ریښه درلوده؛ د همدې له مخې، کله چې مجاهدینو پر کابل هجوم راوړ، د هر بل افغان په څېر د هندوانو او سیکهانو تورې ورځې هم پیل شوې.

د هغه رپوټ له مخې چې د طلوع له خوا هم خپور شوی، د پکتیا ولایت اوسېدونکی او د افغانستان د هندوانو د شورا رئیس اوتار سینګهـ ویلي، چې په هغو کلونو کې یې د دوو ورونو په ګډون د کورنۍ لس غړي له لاسه ورکړي. «له موږ سره تبعیض په ۱۹۹۲ کې پیل شو؛ کله چې خلکو نورو ته د سیکهـ

1. Ballard, Roger. "The History and Current Situation of Afghanistan's Hindu and Sikhs Population." Center for Applied South Asian Studies, (2011).

،مسلمان، تاجیک، هزاره ازبک په نوم گوته نیوله.»[1] د «موږ له افغانستان سره اړیکه لرو» تر سرلیک لاندې په یوه بله مقاله کې، چې د فارن پالیسي مجلې خپره کړې، دا نقل قول راغلی دی:

«له ۱۹۹۲ کال وړاندې هر څه بل ډول ؤ. هندوانو او سیکهانو له خوښۍ او ورورۍ ډک ژوند درلود. زموږ د ټولنې غړي د بېلابېلو تجارتونو درلودونکي ؤ او په افغانستان کې سوداگرۍ او مالي فعالیتونه د هندوانو او سکهانو د پیاوړي حضور شاهد ؤ. کله چې مجاهدینو واک ترلاسه کړ، زموږ ټولنه د بېلابېلو جرمونو تر برید لاندې راغله چې له مجاهدینو سره د تړلیو افرادو له خوا ترسره کېدل.»

ورپسې، کله چې له ۱۹۹۲ څخه تر ۱۹۹۴ میلادي پورې طالبانو د افغانستان کنټرول په لاس کې واخیست، امنیتي وضعیت د ټولو لپاره وخیم شو او دې بنسټپالو چې قدرت په لاس کې درلود د رژیم د نه مشروعیت له امله یې د ټولنې نورې ډلې د اسلامي قوانینو د نه رعایت کولو په پلمه غندلې او له تاوتریخوالي څخه یې د اسلامي دولت د رامنځته کولو او حاکمولو لپاره گټه واخیسته، او د دوی په خپله وینا په سوچه اسلامي شریعت اداره کېده.[2] د نورو دینونو او مذهبونو د پیروانو تبنتونه، پیسې ترې اخستل، غلا او زورول په پراخه توگه موجود ؤ. طالبانو له خلکو وغوښتل چې د هندوانو او سیکهانو له دوکانونو څه وا نخلي؛ هڅه یې وکړه هغوی اسلام ته په اوښتلو مجبور کړي؛ او بالاخره هندو او سیکهـ نارینه یې اړیستل چې زیړه ټوټه پر تن کړي او ښځې یې په زوره د مسلمانو ښځو غوندې مخونه پټ کړي، چې له نورو سره یې تفکیک وشي.[3]

امنیتي تهدیدونه چې د افغانستان هندو او سیکهـ هیوادوال یې زغمي، له هغو تهدیدونو ډېر زیات دي، چې د دې هیواد وگړي یې په ورځني ژوند کې د طالبانو او نورو تروریستي ډلو له خواویني. هندوان او سیکهان د خپلو باورنونو او عقایدو د متفاوت نظام له امله په نښه کیږي، په داسې حال کې چې د افغانستان له مسلمانانو سره د هغوی برخورد او مخامخېدل متفاوت دي. د قومي جگړو او وینو تویولو پر مهال هندوانو او سیکهانو برخه وا نخسته او هیڅکله یې له هغو گوندونو ملاتړ و نه کړ، چې خپل رسالت او مسئولیت یې قومي او سمتي شخړو ته لمن وهل گڼل. د ایشوار داس په وینا حتا کله چې د کمونستانو او مجاهدینو تر منځ جگړه ونښته ما خپله دا موضوع ډاکټر نجیب الله ته وویله، چې موږ په داخلي جگړه کې د گډون لېوالتیا نه لرو، چې پکې یو ورور د بل ورور وژلو ته ملا تړي؛ زموږ باور دا دی

1. TOLOnews. "Nearly 99% of Hindus, Sikhs left Afghanistan in last three decades." Tolonews Website, 20 June, 2016. Accessed on November 10, 2018. https://www.tolonews.com/afghanistan/nearly-99-hindus-sikhs-left-afghanistan-last-three-decades
2. Emadi, Hafizullah, "Minorities and marginality: pertinacity of Hindus and Sikhs in a repressive environment in Afghanistan." Nationalities Papers 42 (2014): p-308.
3. Emadi, Hafizullah, "Minorities and marginality: pertinacity of Hindus and Sikhs in a repressive environment in Afghanistan." Nationalities Papers 42 (2014): p-316.

چې موږ ټول افغانان یوو.»[۱]
په ۲۰۰۲ کال کې کله چې د طالبانو رژیم له منځه تللی و، ټولو باور درلود چې د اویایمې میلادي لسیزې طلایي ورځې به بیا په افغانستان کې ژوندۍ شي او اقتصادي وده او هوساینه، د هیوادوالو آزادۍ او امنیت به بېرته راشي. له همدې امله، ډېری هیوادوالو چې د مجاهدینو او طالبانو د حکومتونو پر مهال یې افغانستان پرېښی و، بېرته هیواد ته ستانه شول. خو نړیوالې ټولنې او د افغانستان حکومت په خپل اخلاقي مکلفیت کې، چې د لږکیو او تر ستم لاندې ډلو د حقونو دفاع او ملاتړ به کوي، کوتاهي وکړه.[۲] د رویټرز د رپوټر حامد شالیزي د رپوټ مطابق «په یوه رڼا ورځ د کابل په ښار کې، جګتار سینګهـ لغمانی خپل د عطارۍ په دوکان کې ناست و، چې ناڅاپه یو سړی راغی، د تهدید په دود یې چاقو ورته وښوراوه او ورته یې وویل چې اسلام ته واوړي، کنه مړی به یې پرې شي. هغه ورځ د جګتار سینګهـ ژوند نورو دوکاندارانو او لارویانو وژغوره.»[۳]
په وروستیو دوو لسیزو کې، د افغانستان هندو او سیکهـ هیوادوالو چې له پاکستان او هندوستان څخه له مهاجرته خپل هیواد ته ستانه شوي، د خپلو ځمکو او کورنو په تصرف کې له ستونزې سره مخ دي. دې هیوادوالو د هغو ځواکمنو افرادو د انتقام له وېرې چې د دوی ځمکې او کورونه یې غصب کړي ؤ، و نشول کولی پر هغوی حقوقي دعوه اقامه کړي. حتا اوس هم هندو او سیکهـ هیوادوال له کرکې سره مخ دي او نشي کولی د خپلو مړو د جسدونو سوزولو مراسم له خپل اعتقادي آیین سره سم ترسره کړي، ځکه دې مراسمو ته ځانګړي شوي ځایونه غصب شوي او نور خلک هم په بېلابېلو طریقو، لکه مراسمو ته د ډبرو په غورځولو کوښښ کوي د دوی د مراسمو د اجرا مخه ونیسي. د دې مراسمو د ترسره کولو لپاره د بدیلو ځایونو اړوند حکومت تل د دوی پر غوښتنو سترګې پټې کړي.[٤] دا معضله لا هم پر ځای ده؛ که څه هم د افغانستان دولت د دوی لپاره یو شمېر ماشینونه پېرلي ؤ، خو د روال سینګهـ د مړینې تر وخته دا ماشینونه ګټې اخستنې ته نه و سپارل شوي.[۵]
د ۲۰۱۸ کال د جولای په میاشت کې نږدې ټول هغه افراد چې د افغانستان د هندو او سیکهـ ټولنې

---

۱. مصاحبه با اشوار داس. فرانکفورت. ۱۰ نومبر ۲۰۱۸.
۲. هماغه منبع.
3. Shalizi, Hamid. "Afghanistan's dwindling Sikh, Hindu communities flee new abuses." Reuters, June 22, 2016. Accessed 23 Nov. 2018. https://www.reuters.com/article/us-afghanistan-minority-idUSKCN0Z82SL
4. Emadi, Hafizullah, "Minorities and marginality: pertinacity of Hindus and Sikhs in a repressive environment in Afghanistan." Nationalities Papers 42 (2014): p-318.
۵. له روچي کمار سره مرکه. ۱ نومبر ۲۰۱۸.

په رهبری کې ؤ، په یو ځانمرګي برید کې په جلال آباد کې ووژل شول.[۱] د دې ۷۰۰ کسیزې ټولنې له نفوس څخه د ۱۹ تنو په وژل کېدو سره، دوی پر دولت او ټولنې خپل باور په بشپړه توګه له لاسه ورکړ. د دوی ټولنه د تبعیض، فقر او د مصئونیت له نشتوالي سره لاس و ګریوان ده. حتا په دې خطه کې له زرګونو کلونو ژوند وروسته دوی پردي ګڼل کیږي او دولت د دوی د ژوند د وضعیت ښه کولو لپاره کافي اقدام نه دی کړی. په دې نظر پوښتنه کې موږ د دوی د امنیت او مصئونیت په اړه بېلابېلې پوښتنې مطرح کړې دي چې فردي مصئونیت، د دوی د ملکیتونو مصئونیت، جرم او تاوتریخوالی، پر امنیتي او عدلي قضایي دستګاه د دوی باور او په عمومي توګه د هیواد امنیتي وضعیت رانغاړي.

## پر فردي مصئونیت وېره

### کلیدي پوښتنې


۷ پوښتنته: دې ورځو کې، تاسو د خپل امنیت او مصئونیت او د کورنۍ د غړیو د امنیت او مصئونیت په اړه څومره اندېښنه لرئ؟ هر وخت. کله. کله کله. که هیڅکله؟

۸ پوښتنه: لطفا د لاندې چارو یا ډلو په اړه خپل غبرګون ما سره شریک کړئ. لطفا راته ووایاست چې تاسو له دې مواردو سره د مخامخېدو په صورت کې، هیڅ نه وېرېږئ؟ لږ لږ وېرېږئ؟ که ډېر وېرېږئ؟ (الف) په ملي یا ولایتي ټاکنو کې رایه ورکول؛ (ب) په یو سوله ییز لاریون کې ګډون؛ (پ) د یو دولتي مقام د ترلاسه کولو لپاره نوماندېدل؛ (ت) د افغانستان له ملي پولیسو سره مخامخېدل؛ (ټ) د افغانستان له ملي اردو سره مخامخېدل؛ (ث) د هیواد له یوې سیمې بلې ته سفر کولو کې؛ (ج) له بهرنیو ځواکونو سره مخامخېدل (غربي ځواکونه)؛ (چ) له طالبانو سره مخامخېدل؛ (ح) له داعش سره مخامخېدل.

که څه هم هندوان او سیکهان په لویو ښارونو کې اوسیږي، نږدې ټولو ځواب ورکوونکو (۹۶.۸٪) وویل چې هر وخت، ډېری مهال یا کله د خپل شخصي مصئونیت یا د کورنۍ د غړو د مصئونیت په اړه وېره لري. که له ټولو هیوادوالو سره یې پرتله کړو، د افغانستان د خلکو له نظرپوښتنې سره سم چې د آسیا بنسټ له خوا په ۲۰۱۸ کال کې خپره شوې، د افغانستان ۷۱.۱٪ خلک په عمومي توګه هر وخت، ډېری مهال، یا کله د خپل مصئونیت یا د کورنۍ د غړیو د مصئونیت په اړه اندېښنه لري. د یادونې وړ ده چې اکثریت هندو او سیکهـ ځواب ورکوونکي (۷۰.۵٪) هر وخت تر داسې وېرې لاندې ژوند کوي او د ټولو هیوادوالو په پرتله چې هر وخت د ځان د مصئونیت یا د کورنۍ د غړو د مصئونیت په اړه وېره


1. Gazi, Zabihullah and Mashal, Mujib. "Sikhs and Hindus bear brunt of latest Afghanistan Suicide attack", The New York Times, July 2018. Accessed on December 20, 2018. https://www.nytimes.com/2018/07/01/world/asia/afghanistan-school-attack-nangarhar.html

لري (۱۳.۲٪) زیاتوالی ښیي.[۱]





که د ولایتونو پر بنسټ ځوابونه ډلبندي کړو، د ننګرهار اوسیدونکو هندوانو او سیکهانو د خپل مصئونیت یا د کورنۍ د غړیو د مصئونیت په اړه ډېره وېره څرګنده کړې (۸۰.٦٪)، او ورپسې د غزني اوسیدونکو (٦۷.۵٪) او بیا کابل (٦۴.۲٪)، که ډېری مهال یا ځینې وخت هم ورسره وشمیرو، په کابل ښار کې زموږ ټول ځواب ورکوونکي (۹۹.۱٪) یې د خپل مصئونیت یا د کورنۍ د غړیو د مصئونیت په اړه وېره لري. د دې تر څنګ، ډېری ځواب ورکوونکو په ننګرهار (۹۷.۸٪) او غزني (۹۰.٦٪) ولایتونو کې هم په همدې شدت سره وېره ښودلې.

1. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf




له پورته پوښتنې سربېره، له ځواب ورکوونکو په بېلابېلو فعالیتونو کې د ګډون اړوند د هغوی د برداشتونو په اړه هم پوښتنې وشوې، لکه په ټاکنو کې رایه ورکول، په یو سوله ییز لاریون کې ګډون، د یو دولتي مقام لپاره نوماندېدل، او د افغانستان نورو سیمو ته سفر. ځواب ورکوونکو په لاریونونو کې د ګډون او په رایه ورکولو کې د ګډون په برخه کې ډېره وېره څرګنده کړه او د هیواد نورو سیمو ته د سفر په برخه کې یې کمه وېره ښودلې. له نیمې زیاتو ځواب ورکوونکو (۵۵.٦٪) وویل چې دوی په یو سوله ییز لاریون کې له ګډون څخه وېره لري، چې دا د ټولو هیوادوالو په پرتله (۳۲٪) زیاته ده. نږدې نیمو ځواب ورکوونکو (۵۱.۷٪) څرګنده کړه چې په رایه ورکولو کې له ګډون څخه ډېره وېره لري، دا بیا هم له ټولو هیوادوالو سره په پرتله کې (۱۹.۲٪) لوړه ده.

نږدې په درېیو کې یوه برخه ځواب ورکوونکو (۳۱.۴٪) د یو دولتي مقام د ترلاسه کولو لپاره له رقابت څخه وېره ښودلې، چې د ټولو هیوادوالو تر منځ له وېرې سره ورته (۳۱.۴٪) ده. جالبه دا چې یوازې ۴.٦٪ هندو او سیکهـ هیوادوال د هیواد نورو سیمو ته له سفر څخه ډېره وېره لري (۱۳٪ کمه وېره لري). په ملي کچه ۳۵.٦٪ هیوادوال د هیواد نورو سیمو ته له تلو څخه وېره ښودلې (۴۴.۱٪ ویلي چې لږ وېره لري). د دې دلیل د وضاحت لپاره چې ولې د افغانستان هندو او سیکهـ هیوادوال د هیواد نورو سیمو ته له سفر کولو کمه وېره لري، لا نوره څېړنه پکار ده. یو منطقي وضاحت کیدای شي دا اوسي چې د هندو او سیکهـ هیوادوالو لپاره د هیواد نورو سیمو ته سفر کول ممکن کابل، ننګرهار او غزني ته سفر کول





له هندو او سیکهـ هیوادوالو څخه له ملي پولیسو، ملي اردو، بین المللي ځواکونو، طالبانو او داعش سره د مخامخېدو په اړه وپوښتل شول. ځواب ورکوونکو له داعش سره له مخامخېدو ډېره وېره وښوده ۹۰.٦٪ دوی څرګنده کړه چې له داعش سره له مخامخېدو ډېر ویرېږي. له داعش سره له مخامخېدو وېره د هیواد په کچه په ټولو هیوادوالو کې هم تر ټولو زیاته (۸۳.۳٪) ده. همدارنګه د ځواب ورکوونکو په درېوو کې له دوه برخو زیاتو (٦۸.۹٪) څرګنده کړه چې له طالبانو سره له مخامخېدو ډېر وېرېږي او جالبه دا چې د ټولو هیوادوالو په پرتله یو څه ښکته ده، چې ۷۵.۳٪ یې ویلي له طالبانو سره له مخامخېدو ډېره وېره لري. له نیمایي زیاتو ځواب ورکوونکو (۵۳.۱٪) هم ویلي چې د افغانستان له ملي پولیسو سره له مخامخېدو ډېره وېره لري، چې د ټولو هیوادوالو په پرتله چې ۱۴.۵٪ یې ویلي له ملي پولیسو سره له مخامخېدو وېره لري، څو چنده زیاته ده. سربېره پر دې هغه شمېر ځواب ورکوونکو چې له بین المللي ځواکونو سره (۱٦.۸٪) او ملي اردو (۵.۲٪) سره له مخامخېدو یې ډېره وېره ښودلې د ټولو هیوادوالو په پرتله کمه ده (په ترتیب سره ۳۷.۳٪ او ۱۲.۵٪)

د هندوانو او سیکهانو په منځ کې له ملي پولیسو سره له مخامخېدو ډېره وېره او له طالبانو سره له مخامخېدو د وېرې کمه کچه د تمې خلاف موندنې دي او کیدای شي د نورو هیوادوالو په پرتله د دې ټولنیزو ډلو د متفاوتو تجربو ښکارندویي کوي. په مشخصه توګه، دا موندنې په ښارونو کې له پولیسو سره

---

۱. له نرندر سینګهـ سره مرکه. کابل. ۲۸ اکتوبر ۲۰۱۸.

د هندوانو او سيکهانو د مخامخېدو بده تجربه ښيي، چې دوی په ښارونو کې ډېر اوسيږي.




## *جرم او تاوتريخوالی*

### کليدي پوښتنې

۹ پوښتنه: زه ستاسو د مصئونيت او ستاسو د کورنۍ د غړيو د مصئونيت په اړه څو جملې لولم. مهرباني وکړئ ووایاست چې تاسو دا موارد تجربه کړي که نه. (الف) آيا تاسو يا ستاسو د کورنۍ کوم غړی په تېرو ۱۲ مياشتو کې په مرگ يا په بل څه تهديد شوي ياست؟ (ب) آيا تاسو يا ستاسو د کورنۍ کوم غړي په تېرو ۱۲ مياشتو کې تېپي شوي ياست؟ يا مو وهل او ښکنځل خوړلي؟ (پ) آيا تاسو يا ستاسو د کورنۍ کوم غړی په تېرو ۱۲ مياشتو کې تښتول شوي ياست؟ (ت) آيا په تېرو ۱۲ مياشتو کې تاسو خپل ملکيت له لاسه ورکړی؟ يا د خپل ملکيت په پلورلو مجبور شوي ياست؟

۱۰ پوښتنه: (که د ۹ پوښتنې ځواب هو وي) مهرباني وکړئ ووایاست مسئوليت يې د چا پر غاړه دی؟

۱۱ پوښتنه: آيا تاسو د طالبانو د پرځېدو له مهاله او د کرزي د حکومت له پيله خپل جايداد يا ځمکه له لاسه ورکړې؟ يا يې په پلورلو مجبور کړای شوي ياست؟

۱۲ پوښتنه: (که د ۱۱ پوښتنې ځواب هو وي) څه ډول ملکليت؟ (الف) ځمکه؛ (ب) کور؛ (پ) دوکان؛

(ت) نور

۱۳ پوښتنه: (که د ۱۲ پوښتنې ځواب هو وي) مهرباني وکړئ ووایاست چا مو ملکیت غصب کړی یا د چا له خوا د ملکیت په پلورلو مجبور شوي یاست؟

۱۴ پوښتنه: (که د ۱۲ پوښتنې ځواب هو وي) مهرباني وکړئ ووایاست په کوم ځای کې ستاسو ملکیت غصب شوی یا یې په پلورلو مجبور شوي یاست؟

۱۵ پوښتنه: زه ستاسو د ټولنیز مصئونیت په اړه څو جملې لولم. مهرباني وکړئ په هو او نه ځواب ورکړئ. (الف) آیا چا ستاسو پر عبادت ځایونو باندې برید کړی؟ (ب) آیا چا ستاسو د مړیو د تدفین پر ځای کله برید کړی؟ (پ) په تېرو کلونو کې آیا کله مجبور شوي یاست چې خپل عبادت ځایونه وتړئ؟

۱٦ پوښتنه: (که د ۱۵ پوښتنې ځواب هو وي) مهرباني وکړئ ووایاست د چا له خوا؟

۱۷ پوښتنه: (که د ۱۵ پوښتنې ځواب هو وي) مهرباني وکړئ ووایاست، چېرې؟


۱۸ پوښتنه: که تاسو د تاوتریخوالي یا جرمي عمل قرباني شئ، څومره اعتماد لرئ چې په دولت کې د قانون پلي کوونکي بنسټونه به مجرم تر تعقیب لاندې و نیسي؟

دا باور په پراخه کچه شته چې هندوان او سیکهان د ځمکې د غصب او نورو جرمونو قرباني دي؛ په ځانګړي ډول په ۱۹۹۰ میلادي لسیزه کې. د دې نظر پوښتنې په بهیر کې د هیواد هندوانو او سیکهانو د بېلابېلو جرایمو په اړه څرګندونې کړې دي.


کله چې وپوښتل شول چا دوی یا د دوی د کورنۍ غړي پر قتل تهدید کړي که نه، ۱٦.۱٪ یې مثبت ځواب ورکړ. کله مو چې د دې تهدیدونو د عاملانو په اړه وپوښتل، ډېرو یې وویل چې نه پوهېږي (۲۳.۳٪)، یا یې هم وویل چې د نامعلومو کسانو له خوا (۱۸.٦٪) دا ډول تهدید شوي دي. کله چې د ټپي کېدو یا وهلو او ښکنځلو په اړه وپوښتل شول ۱۸.۳٪ یې مثبت ځواب ورکړ او عوامل یې طالبان ۳۰.۴٪، نه پوهېږم ۱۵.۲٪ او د جلال آباد برید ۱۳٪ یاد کړل. کمو یې وویل چې خپله یا یې د کورنۍ غړي تښتول شوي او دا مورد ډېر په کابل کې و. (له ۱٦ پېښو، ۱۴ ځواب ورکوونکو تښتونه رپوټ کړې)




که معلومات د ولایت پر بنسټ ډلبندي کړو، تر ټولو زیاتې تښتونې په کابل او تر ټولو زیات وهل او ښکنځل په غزني ولایت کې رپوټ شوي دي.



دا باور په پراخه توګه موجود دی چې هندوان او سیکهان د ځمکې د غصب قرباني شوي. په دې نظرپوښتنه کې هم موږ له ځواب ورکوونکو وپوښتل چې د طالبانو د رژیم له پرزیدو را په دېخوا او د کرزي د حکومت له پیله دا ډول څه ورسره پېښ شوي که نه. په ټولیزه توګه ۱۶.۲٪ ځواب ورکوونکو مثبت ځواب ورکړ؛ ۲۹.۲٪ په کابل کې، ۱۳.۴٪ په غزني کې او ۴.۴٪ په ننګرهار کې. د هندوانو او سیکهانو د ځمکو غصب د لومړي ځل لپاره د مجاهدینو د حکومت پر مهال پیل شو او تر ننه روان دی.[1]





تر ټولو عام ملکیت چې شوی یا په زوره پلورل شوی ځمکه (۱۰.۱٪) او کور (۷.۳٪) دي. ځواب ورکوونکو مافیا او محلي قوماندانان (۱.۴۴٪) او د سیمې خلک (۱۷.۲٪) د غصب یا په زوره د پلورلو عاملین یاد کړي. په ورته توګه، ځواب ورکوونکو مافیا او محلي قوماندانان (۳۳.۳٪) د کورونو په غصب او یا په زوره پلورلو هم تورن کړل. خو ډېرو کمو یې عامل دولت یاد کړ او دا مورد یواځې په کابل کې ثبت شوی.

د هندوانو او سیکهانو ټولنې بې شمېره قضیې د خپلو غصب شویو ملکیتونو د اعادې لپاره په محاکمو کې ثبت کړې دي او حتا په ځینو مواردو کې یې په مستقیم ډول جمهور رئیس ته لیک لیکلی.[2] په بېلابېلو ولایتونو کې جنګسالارانو او محلي قوماندانانو د دوی ځمکې او کورونه غصب کړي دي یا یې د دوی د

۱. له بصیر حمیدي سره مرکه. کابل. ۲۹ نوامبر ۲۰۱۸.
۲. له روچي کمار سره مرکه. کابل. ۱ نوامبر ۲۰۱۸.


معبدونو او درمسالونو اړوند ملکیتونه نیولي دي.[۱] په ۱۹۸۰ میلادي لسیزه کې هندوان او سیکهان په ټول هیواد کې خواره ؤ؛ خو د مجاهدینو او طالبانو د حکومتونو پر مهال کله چې ډېرو یې هیواد پرېښود، نورو یې د امنیتي دلایلو له امله ښارونو ته پنا یوړه او جایدادونه او ملکیتونه یې د خلکو له خوا غصب شول. دا مهال ډېری هندوان او سیکهان په درمسالونو کې ژوند کوي.[۲]
زموږ د نظر پوښتنې پر مهال موږ دا مسئله د دې ټولنې پر وړاندې د یوې جدي ستونزې په توګه په نښه کړه او و مو موندله چې د افغانستان دولت د دوی د ملکیتونو او مذهبي ځایونو لپاره مشخص پروګرام نه لري.





د هندوانو او سیکهانو د دودونو او سنتونو پر وړاندې د جرمونو په اړه مو له هغوی وپوښتل، چې آیا د هغوی د عبادت او تدفین ځایونه تر برید لاندې راغلي یا آیا مجور کړای شوي دي چې دغه ځایونه د تهدید له امله وتړي؟ په ټولیزه توګه ٣٩٪ ځواب ورکوونکو وویل چې د تدفین ځایونه یې تر برید لاندې راغلي. ډېری دغه بریدونه په کابل کې پېښ شوي (۸۳٪)، کم شمېر هم په غزني ولایت کې (۲۵.۹٪)؛ خو په ننګرهار ولایت کې هیڅ برید نه دی ریپوټ شوی.
سربېره پر دې ۲۲.٦٪ ځواب ورکوونکو ویلي چې پر عبادت ځای یې برید شوی او ۱۲.۲٪ ویلي چې په تېر کې مجبور کړل شوي چې خپل عبادت ځای وتړي. پر عبادت ځای د برید یا د عبادت ځای د تړلو

۱. له دلیپ سینګهـ سره مرکه. غزني. ۲۳ نومبر ۲۰۱۸.
۲. له نریندر سینګهـ سره مرکه. کابل. ۲۸ اکتوبر ۲۰۱۸.

تر ټولو ډېر بریدونه په کابل کې رپوټ شوي دي (په ترتیب ۵۷.۵٪ او ۲۲.٦٪) وروسته په غزني کې (په ترتیب ۳.۵٪ او ۱۱.۸٪). په ننګرهار ولایت کې ځواب ورکوونکو پر خپل عبادت ځای د هیڅ برید یادونه و نه کړه.




لنډه دا چې، له ځواب ورکوونکو مو وپوښتل چې هغوی د دولت پر قانون پلي کوونکو بنسټونو او پر عدلي او قضایي دستګاه تر کومه حده باور لري، چې په یوه جرمي قضیه کې د قرباني واقع کېدو په صورت کې عاملین مجازات کړي؟ نږدې نیمو ځواب ورکوونکو (۴۷٪) وویل چې ډېر او یا تر یوه حده اعتماد لري. په ننګرهار کې د دوی د اعتماد کچه ترټولو ډېره ۷۸.۵٪ او ورپسې په غزني کې ۳۵.۸٪ او کابل کې ۲۷.۵٪ وه. د جرایمو د کچې په ځواب کې د دې ځواب له قرینې ښکاري چې پر قانون پلي کوونکو بنسټونو او عدلي قضایي دستګاه د ځواب ورکوونکو د اعتماد کچه د جرایمو د تجربې له کچې سره معکوسه اړیکه لري؛ ځکه په کابل کې پر هندوانو او سیکهانو د جرایمو تر ټولو ډېره کچه رپوټ شوې ده.


د ولایت پر اساس پر قانون پلي کوونکي او قضايي دستګاه باور
1.00
0.75
0.50
0.25
0.00
غزنی
کابل
ننګرهار
ټول
نه پوهېږم
بی خوابه
هیڅ
چندان نه
تر یو حده
ډېر زیات

## سیاسي ګډون

د افغانستان د هندو او سیکهـ ټولنې د سیاسي ګډون بېلابېلې مرحلې تېرې کړې دي. د امیر حبیب الله خان د حکومت په دوران کې (۱۹۰۱-۱۹)، له دوی سره تبعیض ډېر و. هندوان او سیکهان مجبور ؤ زیړ رنګه ټوټه چې د غیر مسلمانانو په توګه د دوی د هویت نښه وه، پر تن کړي؛ مجبور ؤ د خپل باور او عقیدې له امله جزیه ورکړي؛ او مجبور ؤ خپل دیني مراسم او چارې په خپلو حویلیو کې په محدود ډول ترسره کړي.[1] د دوی د عقیدې د بدلون لپاره د تشویق په توګه امیر حبیب الله د هغو هندوانو او سیکهانو لپاره چې اسلام ته اوښتل یوه اندازه پیسې او سرپنا برابروله.[2] د امان الله حکومت (۱۹۲۹-۱۹۱۹) د دې ټولنې لپاره طلایي دوره وه، ځکه نه یوازې و یې کولای شول د هیواد په سوداګرۍ او اقتصاد کې فعاله برخه واخلي، بلکې هغوی ته په سیاست او تصمیم نیونو کې هم برخه ورکول کېده او غږ یې اورېدل کېده. امان الله د هزاره ګانو غلامي او پر غیرمسلمو جزیه لغوه اعلان کړه. هندوان او سیکهان نور مجبور نه ؤ د هویت نښه پر تن کړي. تر څنګ یې، وکولی شول په نظامي او ملکي ښوونځیو کې شامل شي او بالاخره د ټولنې فعاله او مهمه برخه شول.[3] غلام محمد غبار په خپل کتاب کې (۱۹۹۵) لیکي چې د دولت د ګډون د سیاستونو له امله هندوانو او سیکهانو و کولی شول د کندهار، غزني او جلال آباد په ولایتي شوراګانو کې او هم د کابل په ښوونیز انجمن کې استازي ولري.[4]

له دې لړ مخکې، د شیر علي خان د حکومت په دوران کې (۱۸۶۳-۱۸۶۶ او ۱۸۶۹-۱۸۷۹) یو هندو د مارشال نظامي رتبې ته رسېدلی و او د عبدالرحمن او د هغه د ځای ناستو په حکومت کې هندوانو او

---

1. Emadi, Hafizullah, "Minorities and marginality: pertinacity of Hindus and Sikhs in a repressive environment in Afghanistan." Nationalities Papers 42 (2014): p-312.

۲. هماغه منبع.

۳. هماغه منبع.

٤. غبار، میر غلام محمد. ۱۳۷۴. افغانستان در میسر تاریخ. لومړی جلد. تهران: انتشارات جمهوري. ص ۷۹۴.

سیکهانو د کابل او کندهار د پولیسو په ځواکونو کې خدمت کاوه.[۱] امان الله د نرنجان داس په نوم یو سیکهـ نژادی مالیې وزارت ته ټاکلی و، او داس د بریتانیې له دولت سره د راولپنډۍ د سولې په معاهده کې د افغان پلاوي غړی هم و، چې د ۱۹۱۹ میلادي د اگست پر ۸مه جوړه شوې وه.[۲] ایشوار داس یو شمېر نورې مهمې گمارنې هم یادوي او د امان الله له حکوت څخه په دفاع او ملاتړ کې د هندوانو او سیکهانو نقش، په ځانگړي ډول د خوست د بغاوت په ټکولو کې د دوی نقش د دولت عسکرو ته د سرپناه او خوړو په برابرولو کې، پیاوړی کوي.

خو په ۱۹۲۰ کې په هندوستان کې د هندوانو او مسلمانانو تر منځ د کشمکشونو په زیاتېدو او د امان الله د حکومت په سقوط سره په ۱۹۲۹ کال کې د یو بنسټپالي بغاوت په نتیجه کې، په سیاست او تصمیم نیونه کې د هندوانو او سیکهانو د پراخ سیاسي گډون او غړ زمانه هم پای ته ورسېده.[۳] له هغې وروسته د دوی د ژوند په وضعیت کې هیڅ ښه والی ښکاره نه شو؛ که څه هم د کمونستانو د حکومت پر مهال یې کولی شول یو څه آرامه ساه واخلي. د مجاهدینو او طالبانو د حکومتونو پر مهال نه یواځې د افغانستان د هندوانو او سیکهانو سیاسي گډون صفر ته ورسېد، بلکې پر وړاندې یې پراخه تبعیض هم کېده او ډېری یې مجبور شول له افغانستانه وتښتي.

د طالبانو د رژیم له سقوط وروسته په ولسواکو حکومتونو کې د دوی د ښه مشراکت لپاره د هیلو سره سره د هندوانو او سیکهانو دردوونکی وضعیت هېر شوی دی. لکه څنگه چې شایگان او عمار هم اشاره کوي، د هیواد د اساسي قانون ٦٢مه ماده د غیر مسلمانانو سیاسي گډون محدودوي او د جمهور رئیس، د جمهور رئیس د مرستیالانو، وزیرانو او د سترې محکمې د قاضیانو د خدای په نامه د تحلیف صراحت هم په یو ډول د دوی په سیاسي مشارکت کې محدودوونکی رول لوبوي.[٤] د افغانستان مخکیني ولسمشر حامد کرزي یو هندو د خپل اقتصادي مشاور په توگه ټاکلی و او د هغه د حکومت پر مهال په

1. Foschini, Fabrizio, "The Other Fold of the Turban: Afghanistan's Hindus and Sikhs," Afghanistan Analysts Network, September 23, 2013, https://www.afghanistan-analysts.org/the-other-fold-of-the-turban-afghanistans-hindus-and-sikhs/

2. Dass, Ishar. O Dukhtar-e Diwan, Bibi Rado Jan. Kabulnath, December, 2007. Accessed December 29, 2018. http://kabulnath.de/Salae_Doum/Shoumar-e-45/Ischer%20Dass_BebiRadoJan.html

۳. هماغه منبع.

4. Shayegan, Ehsan and Ammaar, Yahya. "Ignored Identities: The Status of Hindus and Sikhs in Afghanistan's Legal System," Porsesh Research and Studies Organization, (page 6), 19 November 2016, http://www.porseshresearch.org/porseshv2/wp-content/uploads/2016/11/Ignored-Identities-Status-ofHindus-and-Sikhs-in-Afghanistans-Legal-System.pdf, date accessed 29 December 2018.

مشرانو جرگه کې هم یو غړي د افغانستان د سیکهـ ټولنې استازولي کوله.[۱] په ۲۰۱۴ کال کې شام لال باتهجي چې یو هندو نژاده و، کاناډا ته د افغانستان د ځانگړي استازي او د افغانستان د سفیر په توگه وگمارل شو.[۲] په ولسي جرگه کې د دې ټولنې د استازولۍ لپاره د یوې چوکۍ ځانگړې کولو وروستیو هڅو دې دیني اقلیت ته د دولت او د افغانستان د ټولنې پام ور اړولی.[۳] خو په ولسي جرگه کې له یوې چوکۍ سره سره، هندوان او سیکهان د ملکي خدمتونو، اردو او د هیواد د ملي پولیسو په برخو کې هیڅ برخه نه لري.

1. US Department of State 'International Religious Freedom Report for 2013,' Afghanistan, (Section II), 28 July 2014. http://www.state.gov/j/drl/rls/irf/religiousfreedom/index.htm?-year=2013&dlid=222323, date accessed 29 December 2018
2. British and Irish Agencies Afghanistan Group, Monthly Report: Afghanistan in May 2014. available at ecoi.net http://www.ecoi.net/file_upload/1226_1401785592_afghani-stan-20in-20may-202014.pdf, date accessed 29 Deember 201
3. Foschini, Fabrizio, "The Other Fold of the Turban: Afghanistan's Hindus and Sikhs," Afghan-istan Analysts Network, September 23, 2013, https://www.afghanistan-analysts.org/the-other-fold-of-the-turban-afghanistans-hindus-and-sikhs/

### ټاکنې

### کلیدي پوښتنې

۲۰ پوښتنه: په کومو تېرو ټاکنو کې مو رایه ورکړې؟ (الف) د ۱۳۸۳ د ولسمشرۍ ټاکنې؛ (ب) د ۱۳۸۴ پارلماني ټاکنې؛ (پ) د ۱۳۸۸ د ولسمشرۍ ټاکنې؛ (ت) د ۱۳۸۹ پارلماني ټاکنې؛ (ټ) د ۱۳۹۳ د ولسمشرۍ لومړی پړاو ټاکنې؛ (ث) د ۱۳۹۳ د ولسمشرۍ دویم پړاو ټاکنې.

۲۱ پوښتنه: (که د ۲۰ پوښتنې ځواب «نه» وي) ولې مو رایه ور نه کړه؟

۲۲ پوښتنه: غواړئ چې په راتلونکو ټاکنو کې رایه ورکړئ؟


۲۳ پوښتنه: (که د ۲۲ پوښتنې ځواب «هو» وي) د رایې ورکولو لپاره ستاسو تر ټولو لویه انګېزه څه ده؟

۲۴ پوښتنه: (که د ۲۲ پوښتنې ځواب «نه» وي) ولې نه غواړئ رایه ورکړئ؟


د افغانستان د ډېری خلکو لپاره د ۱۳۸۳ ولسشریزې ټاکنې د رایې ورکولو لومړۍ تجربه وه، چې ملیونونو افغانانو پکې ګډون وکړ. له هغې وروسته د ولسمشرۍ دوه ټاکنې او درې پارلماني ټاکنې په افغانستان کې شوې دي. په وروستیو ټاکنو کې د درغلۍ او پر وخت د ټاکنو ترسره کولو تورونه ؤ. سربېره پر دې، د دولت مخالفو عناصرو هم ټاکنې هدف ګرځولې دي چې په ځینو مواردو کې د نوماندانو او رایه ورکوونکو د له منځه تلو باعث شوي. د افغانستان د خلکو له نظر پوښتنې سره سم چې د آسیا بنسټ له خوا په ۲۰۱۸ کې خپره شوې ده، ناامني او تقلب د افغانانو د زړه مرېدو د تر ټولو لویو لاملونو په توګه یاد شوي.[1]

په دې نظر پوښتنه کې مو له هندو او سیکهـ هیوادوالو وپوښتل چې د ۱۳۸۳ کال د ولسمشرۍ ټاکنو څخه د ۱۳۹۳ د ولسمشرۍ ټاکنو تر دویم پړاو پورې یې په ټاکنو کې ګډون کړی که نه. د دې نظر پوښتنې موندنې ښيي چې د رایې په شرایطو برابرو له نیمایي زیاتو هندوانو او سیکهانو خپله رایه کارولې ده. په ټاکنو کې ګډون په نرانو کې تر ښځو زیات و او په کلي توګه ۷۶.۲٪ نرانو او ۷۰.۷٪ ښځو ځواب ورکوونکو چې د رایې ورکولو پر شرایطو برابر ؤ، د ۱۳۹۳ کال د ولسمشرۍ په دویم پړاو ټاکنو کې رایه کارولې ده.


1. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf




که څوابونه د ولایتونو پر بنسټ و ارزوو، په ننګرهار ولایت کې تر ټولو زیاتو ځواب ورکوونکو (۸۵.۹٪) د ۱۳۹۳ کال د ولسمشرۍ ټاکنو په دویم پړاو کې رایه کارولې ده. په عین حال کې، له دې نظرپوښتنې سره سم په غزني ولایت کې ۷٦.۱٪ ځواب ورکوونکو او په کابل ولایت کې ۵۹.۸٪ ځواب ورکوونکو په یادو ټاکنو کې رایه ورکړې ده. په کابل ولایت کې د نورو ولایتونو په نسبت په تېرو ټاکنو کې د ځواب ورکوونکو د ګډون کچه کمه وه.




له هغو ځواب ورکوونکو مو وپوښتل، چې د رايې ورکولو په شرايطو برابر ؤ او رايه يې نه ده کارولې، چې ولې يې رايه نه ده ورکړې. هغوی بېلابېل دلايل درلودل چې په ترتيب سره په دې ډول دي: دلته نه وم، د رايې کارت مې نه درلود، لېوالتيا مې نه درلوده، وېرېدم، امنيت تامين نه و. تقلب چې په ټاکنو کې د هيوادوالو د ګډون نه کولو تر ټولو لوی دليل ګڼل کيږي د دې نظرپوښتنې د ځواب ورکوونکو له خوا يې هيڅ يادونه و نه شوه. سربېره پر دې، د نورو هيوادوالو په پرتله هندوانو او سيکهانو امنيتي ستونزې او وېره د رايې د نه ورکولو د دليل به توګه مطرح کړه.





کله مو چې د دې نظرپوښتنې ميداني چارې ترسره کولې، د ۱۳۹۷ کال پارلماني ټاکنې نه وې ترسره شوې. له ځواب ورکوونکو مو وپوښتل چې په راروانو ټاکنو کې د ګډون لېوالتيا لري که نه. په ټولیز ډول ۸۲.۹٪ ځواب ورکوونکو وويل چې تصميم لري په دې ټاکنو کې رايه وکاروي؛ خو واقعيت دا دی چې دا کچه په مراتبو ټيټه ده. په تېرو ټاکنو کې د ګډون د کچې برعکس، په کابل ولايت کې ۸٦.۸٪ ځواب ورکوونکو د غزني د ځواب ورکوونکو ۷٦.۵٪ په پرتله په راتلونکو ټاکنو کې د ګډون لپاره ډېره لېوالتيا وښووده او په کابل او ننګرهار کې ۸۷.۱٪ په ټاکنو کې د ګډون لپاره لېوالتيا تقريباً يو ډول وه. د ښځو په منځ کې په ټاکنو کې د ګډون لېوالتيا ۷۷.۴٪ او په راتلونکو ټاکنو کې د نرانو په منځ کې د ګډون لېوالتيا ۸۸.۸٪ وه.

ممکن په کابل ولایت کې د ځواب ورکوونکو په منځ کې په ټاکنو کې د ګډون لېوالتیا ځکه په لوړه کچه ده چې په پارلماني ټاکنو کې د هندوانو او سیکهانو نوماند (نریندر سینګهـ) په جلال آباد کې پر هندوانو او سیکهانو تر برید وروسته، کابل ته وکوچېد.




له ۸۲.۹٪ کسانو چې موږ ته یې وویل لېوالتیا لري چې د ۱۳۹۷ کال پارلماني ټاکنو کې ګډون وکړي، د هغوی د ګډون انګېزه مو وپوښتله. اکثریتو یې دوه ځوابه راکړل: حق مو دی چې رایه ورکړو (۲۸.۲٪) او د سولې او پرمختګ لپاره رایه ورکوو (۲۳.۹٪). درې ځوابونه چې کم ذکر شول، دا ؤ: پارلمان ته د یو ښه شخص د ټاکلو لپاره (۱۳.۷٪)، په پارلمان کې د استازي درلودلو لپاره (۱۱.۵٪) او ځکه چې افغان یم (۱۰.۳٪). له هغو ۱۱.۳٪ کسانو ځخه چې ویل یې په راتلونکو ټاکنو کې د ګډون تصمیم نه لري، عدم حضور، د رایې ورکولو د کارت نشتوالی، د علاقې نشتوالی، د تذکرې نشتوالی او ناامني یې د رایې د نه ورکولو د دلایلو په توګه یاد کړل.




## دولت سره اړيکې


### کليدي پوښتنې

۲۵ پوښتنه: ستاسو په نظر تاسو يا ستاسو په څېر بل کس د محلي حکومت په تصميم نيونو کې څه اغېز لري؟ ډېر، تر يوه حده، کم، که هيڅ؟
۲۶ پوښتنه: آيا ستاسو د کورنۍ کوم غړی په دولت کې کار کوي؟
۲۷ پوښتنه: (که د ۲۶ پوښتنې ځواب «هو» وي) د دولت په کوم ارګان کې کار کوي؟

د افغانستان د خلکو د نظرپوښتنې پر بنسټ چې په ۲۰۱۸ کال کې د آسيا بنسټ له خوا خپره شوې، په ملي کچه ۵۲.۹٪ هيوادوال باور لري چې د محلي حکومت پر تصميم نيونو نفوذ او اغېز لري.[۱] لکه څنګه چې تمه کيږي، د هغو هندوانو او سيکهانو شمېر چې باور لري د محلي حکومت پر تصميم نيونو نفوذ او اغېز لري، په مراتبو کم دی. په ټوليز ډول، ۳۶.۸٪ ځواب ورکوونکو وويل چې کولی شي د محلي حکومت پر تصميم نيونو ډېر يا تر يوه حده اغېز ولري. جالبه ده چې دا برداشت د کابل د ځواب

1. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf

ورکوونکو په منځ کې (۱۰.۴٪) په مراتبو د غزني ولایت (۲۵.۹٪) او ننگرهار ولایت (۷۲٪) څخه کم دی. همدا راز، د ښځو ځواب ورکوونکو په پرتله، نارینه ځواب ورکوونکي ډېر باور لري چې کولی شي د محلي حکومت پر تصمیم نیونو اغېز ولري (نران ۴۴.۸٪ او ښځې ۲۴.۱٪). دې ته په پام سره دا پایله د تمې خلاف نه ده، چې ډېری ښځې په کورونو کې بندې او محدودې دي.




داسې ښکاري چې د محلي حکومت پر تصمیم نیونو په اغېز لرلو کې د ځواب ورکوونکو برداشت او په ټاکنو کې یې د ګډون د لېوالتیا تر منځ اړیکه شته؛ په دې معنا، هغه کسان چې باور لري د محلي حکومت پر تصمیم نیونو ډېر اغېز لري، رایې ورکولو ته ډېره لېوالتیا لري. سربېره پر دې، هغه کسان چې تر نورو شتمن دي، ډېر باور لري چې کولی شي د محلي حکومت پر تصمیم نیونو اغېز ولري.
یوازې اتو ځواب ورکوونکو راته وویل چې د کورنۍ غړي یې په دولت کې کار کوي. ډېری ځواب ورکوونکي په خصوصي برخه او ورو سوداګریو کې پر کار بوخت دي. ورپسې څپرکی چې د دې ټولنې اقتصادي وضعیت ته ځانګړی شوی، د هیواد د کار په بازار کې د هندوانو او سیکهانو د ګډون او برخې اخستنې په اړه په تفصیل سره بکې خبرې کوو.



## اقتصادي وضعیت

په کابل ولایت کې چې کله څوک د هندوانو او سیکهانو په اړه خبرې وکړي، لومړنی تصویر چې د مخاطب ذهن ته راځي د عطارۍ دوکان او د بوټو د درملو دی. د افغانستان د هندوانو او سیکهانو ټولنه په هغه اندازه چې له جګړې وړاندې شتمن ؤ، اوس له اقتصادي اړخه په ښه وضعیت کې نه دي او ډېر کله د خپل ژوند د پر مخ بېولو لپاره په ورځ مزدورۍ، د عطارۍ وړو دوکانونو او د بوټو درملو، سنتي طب او رخت پلورنې بوخت دي. خو په تېر کې داسې نه وه. په ۱۹۱۹ کال کې امان الله یو سیکهـ نژاده نرنجان داس د مالیې وزارت پر مقام وګماره.[1] د شاه امان الله د حکومت په دوران کې دوی د افغانستان د معارف د نظام په رامنځته کولو کې لویه برخه درلوده، څکه زده کړې یې کړې وې؛ وروسته یې د کابل او ګاونډیو هیوادونو تر منځ سوداګري کنټرولوله. لکه څنګه چې فوشیني هم تایدوي، د افغانستان ډېری هندوان او سیکهان په تېر کې په ښاري فعالیتونو کې لکه سوداګرۍ او د مهارت درلودونکو کارمندانو په توګه ګډون درلود. «ډېرو یې قرضې ورکولې او طبیبان ؤ، چې د افغانستان په ښارونو او کلیو کې یې په ګرځنده توګه د دودیز طبابت خدمات وړاندې کول (دې چارې تر دې وروستیو پورې، کم تر کمه په کابل کې دوام درلود او سیکهانو دودیز درمل او بوټي له هندوستانه راوړل او درمل پلورنځي او د عطارۍ دوکانونه یې درلودل).[2]

د کمونستي حکومت په دوران کې که څه هم هندوان او سیکهان له آزادۍ برخه من ؤ، خو د افغانستان

1. Dass, Ischwar, O Dukhtar-e Diwan, Bibi Rado Jan. Kabulnath, December, 2007. Accessed December 29, 2018. http://kabulnath.de/Salae_Doum/Shoumar-e-45/Ischer%20Dass_BebiRadoJan.html
2. Foschini, Fabrizio, "The Other Fold of the Turban: Afghanistan's Hindus and Sikhs," Afghanistan Analysts Network, September 23, 2013, https://www.afghanistan-analysts.org/the-other-fold-of-the-turban-afghanistans-hindus-and-sikhs/

د خلک ډیموکراټیک ګوند، څېونکي ټولنیز-اقتصادي سیاستونه او سیاسي اصلاحات له افغانستانه د اشرافو او شتمنو د طبقې د تېښتې لامل شول، چې هندوان او سیکهان هم پکې راتلل.[۱] کله چې مجاهدین او طالبان راغلل، د ډېری افغانانو په څېر د دې ټولنې ډېرو غړیو هم د زورولو او د خپل ځان او مال د بایللو له وېرې هیواد پرېښود. له طالبانو وروسته دوره، که څه هم قانون صراحت لري چې د افغانستان ټول اتباع برابرو اقتصادي فعالیتونو او تعلیم ته د لاسرسي برابر فرصتونه لري، خو په ښوونځیو کې د دوی د ماشومانو د پرله پسې زورولو له امله یې ماشومان له ښوونځي پاتې شول. له تعلیمي نظام څخه دا محرومیت د دې لامل شو چې دوی له حکومت، دندې او اقتصادي فعالیتونو څخه هم پاتې شي. په ۲۰۱۵ کال کې د مذهبي آزادیو بین‌المللي رپوټ ښیي چې د افغانستان هندوان او سیکهان د کار بازار او دولتي دندو ته مناسب لاسرسی نه لري، په همدې سبب دوی مهاجرت ته مخه کوي.[۲] حتا افغانستان ته له ملیاردونو مرسته شویو پیسو څخه د هندوانو او سیکهانو ټولنې هیڅ برخه نه وه.

## ***د کورنۍ اقتصادي وضعیت***

### کلیدي پوښتنې

۲۸ پوښتنه: لاندې کومه جمله ستاسو د کورنۍ مالي او د ژوند وضعیت توضیح کولی شي؟ (الف) موږ د لومړنیو خوراکي توکو په برابرولو کې ستونزه لرو؛ (ب) موږ د خوراکي توکو به برابرولو کې ستونزه نه لرو، خو د نویو لباسونو په اخستلو او ټولنیزو لګښتونو کې ستونزه لرو؛ (پ) موږ د لومړنیو خوراکي موادو، نوي لباس او ټولنیزو مصارفو په ورکولو کې ستونزه نه لرو، خو نور ضروري اجناس لکه تلویزیون او یخچال نه شو اخستلی؛ (ت) موږ د خوراکي موادو په برابرولو، نوي لباس، ټولنیزو لګښتونو او ضروري وسایلو لکه تلویزیون او یخچال په رانیولو کې ستونزه نه لرو؛ (ټ) موږ کولی شو هر څه چې وغواړو، رانیولی یې شو.

۲۹ پوښته: ستاسو د کورنۍ د ګټې اصلي سرچینه څه ده؟

۳۳ پوښتنه: آیا ورځ مزدوري ستاسو د کورنۍ د ګټې یوه سرچینه ده؟

۳۴ پوښتنه: (که د ۳۳ پوښتنې ځواب هو وي) د ګټې د نورو سرچینو په پرتله ورځ مزدوري ستاسو د کورنۍ د ګټې لپاره څومره مهمه ده؟

۳۵ پوښتنه: آیا د دندې معاش ستاسو د کورنۍ د ګټې یوه سرچینه ده؟

---

1. Emadi, Hafizullah, "Minorities and marginality: pertinacity of Hindus and Sikhs in a repressive environment in Afghanistan." Nationalities Papers 42 (2014): p-314.
2. US Department of State, "International Religious Freedom Report for 2015, Afghanistan", (Executive summary), 10 August 2016, http://www.state.gov/j/drl/rls/irf/religiousfreedom/index.htm?year=2015&dlid=256299, date accessed 6 January 2017.

۳٦ پوښتنه: (که د ۳۵ پوښتنې ځواب «هو» وي) که هو، له معاش څخه ترلاسه شوې ګټه د کورنۍ د نورو مالي سرچينو په پرتله څومره مهمه ده؟

په افغانستان کې د ژوند د شرايطو د ارزونې پر بنسټ په ۲۰۱٦-۲۰۱۷ ميلادي کې د مرکزي احصايې اداري رپوټ ورکړی و چې ۵۴.۵٪ افغانان د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي.[1] دا رپوټ ښيي چې په ملي کچه د فقر کچه په لوړېدو ده. د هيواد د اقتصاد نامناسب وضعيت او د نفوسو له حده زياته وده په هيواد کې د فقر د کچې د زياتېدو لوی لامل ګڼل کيږي.

په ټوليزه توګه، د افغانستان د هندوانو او سيکهانو اقتصادي وضعيت د نورو هيوادوالو په پرتله متفاوت دی. د افغانستان ډېری هندوان او سيکهان په ښارونو کې ژوند کوي چې هلته عمومي خدماتو ته لاسرسی ښه دی. خو د نورو هيوادوالو په پرتله دوی تعليم ته د لاسرسي او د کار بازار ته د داخلېدو په برخو کې ډېر محدوديتونه لري. په همدې دليل، ډېری هندوان او سيکهان په وړو سوداګريو او وړو دوکانونو کې په کار بوخت دي؛ هغه کار چې ميراثي دی.

د هندو او سيکهـ کورنيو د ژوند او اقتصادي وضعيت د ارزونې او پوهېدنې لپاره په دې نظرپوښتنه کې له ځواب ورکوونکو وپوښتل شول، هغه جمله چې د دوی له وضعيت سره مطابقت لري وټاکي. په څلورو کې يوې برخې (۲۴.۵٪) وويل چې د لومړنيو خوراکي موادو په برابرولو کې ستونزه لري. په درې کې يوې برخې ځواب ورکوونکو (۳۸.۳٪) وويل چې د خوراکي موادو په برابرولو کې ستونزه نه لري، خو د نوي لباس او ټولنيزو لګښتونو په ورکولو کې ستونزه لري. په څلورو کې يوې برخې ځواب ورکوونکو (۲۴.۸٪) وويل چې د لومړنيو خوراکي توکو په برابرولو، د نويو لباسونو په رانيولو او ټولنيزو لګښتونو کې ستونزه نه لري، خو د نورو ضروري وسايلو لکه ټلويزيون او يخچال په رانيولو نه توانيږي. د غزني ولايت ځواب ورکوونکو، هغه ولايت چې د دې نظر پوښتنې له ترسره کولو دوه مياشتې وړاندې د طالبانو په محاصره کې و، د نورو په پرتله يې د ژوند وضعيت بد وښود. د ننګرهار ولايت ځواب ورکوونکو، هغه ولايت چې هلته د سيکهانو يو رهبر او د پارلماني ټاکنو نوماند ترور شو، د نورو دوه ولايتونو په پرتله يې د ژوند وضعيت ښه بيان کړ.


1. Central Statistics Organization, "AFGHANISTAN LIVING CONDITIONS SURVEY 2016-2017", Afghanistan: Kabul, http://cso.gov.af/Content/files/Surveys/ALCS/Final%20English%20ALCS%20Highlight(1).pdf (page 2)




نږدې ټولو ځواب ورکوونکو (۸۹.۷٪) وویل چې یا دوکان لري، یا هم په یو دوکان کې کار کوي؛ دوکان کې د عطارۍ دوکان هم راځي. پر سرک کار کول او نورې دندې هم یادې شوې؛ خو ډېرې کمې. کله مو چې د ورځ مزدورۍ او معاش په ګډون د ګټې د ډول په اړه وپوښتل، ډېرو ځواب ورکوونکو (۴۷.۲٪) وویل چې پر معاش تر ورځ مزدورۍ (۲۲.۲٪) زیات متکي دي. کمو ځواب ورکوونکو ۴۰.۶٪ وویل چې دواړه ډوله ګټه یې د کورنۍ د عاید سرچینه ده. د ګټې د هرې سرچینې د اهمیت په اړه باید ووایو چې ځواب ورکوونکو دواړه ډوله مهم ګڼل. د یادونې وړ ده چې د ګټې د سرچینې نور ډولونه لکه د جایداد کرایه په دې نظرپوښتنه کې نه ده راغلې.

د کار په بازار کې چې دوی سره تبعیض په پراخه کچه شته، هندوان او سکهان په غالب ګومان د وړو سوداګریو په خوا شړل شوي. زموږ معلومات ښيي چې ډېرې هندوان او سیکهان د عطارۍ دوکانونه لري چې په وړو سوداګریو پورې اړه لري. له بل پلوه، داسې بوختیاوې ښيي چې په تېر کې نه وې. په

تېر کې، هندوانو او سیکهانو د نورو افغانانو په څېر بېلابېل تجارتونه درلودل. د بېلګې په توګه، ډاکتر بال مکنداس د کابل ښار یو تر ټولو ښه ډاکتر و. هندوان او سیکهان همدا راز په بانکونو، مالي، نظامي او تجارتي برخو کې پر فعالیت بوخت ول.[۱]




## د کار په بازار کې ګډون

### کلیدي پوښتنې

۳۰ پوښتنه: د کار په بازار کې د هندوانو او سیکهانو پر وړاندې څه خنډونه شته؟


۳۱ پوښتنه: آیا ستاسو د کورنۍ کومه ښځه له کوره بهر کار کوي؟

۳۲ پوښتنه: هغه لوی خنډونه کوم دي چې ستاسو ښځې له کوره بهر له کار کلوو منعه کوي؟

دا مفکوره هم شته چې د افغانستان هندوان او سیکهان د نورو هیوادوالو په پرتله د کار په بازار کې له ډېرو خنډونو سره مخ دي. په دې نظر پوښتنه کې مو له ځواب ورکوونکو څخه د همدې خنډونو په اړه وپوښتل. د دې خنډونو په سر کې بېکاري او د بوختیا د فرصتونو نشتوالی (۳۱.۵٪)، تبعیض او تعصب(۹.٦٪) او زورول (٦.۸٪) یاد شوي. یو شمېر ځواب ورکوونکو (۵.٦٪) دا یادونه هم وکړه چې

۱. له رهنورد زریاب سره مرکه. کابل. ۱۷ نوامبر ۲۰۱۸.

پېرودونکي ترې څه نه اخلي.





له ټولو ۲۸٦ ځواب ورکوونکو څخه یوازې یو تن وویل چې له کورنۍ څخه یې یوه ښځه له کوره بهر کار کوي. د کار په بازار کې د ښځو د ۱۹٪ ګډون په پرتله چې په ۲۰۱۸ کال کې د افغانستان د خلکو په نظرپوښتنه کې راغلي،[1] دا شمېره نږدې هیڅ د پام وړ نه ده. پراخه بېکاري او د کار په بازار کې بې شمېره نورې ستونزې کېدای شي د دې دلیل وي چې ولې هندو او سیکهـ ښځې له کوره بهر کار نه کوي. له کوره بهر د دوی د ښځو د کار کولو پر وړاندې د خنډونو په اړه ځواب ورکوونکو د دې مواردو یادونه وکړه: اجازه نه لري (۳۸.۱٪)، بې سواده دي (۲۵.۲٪)، امنیت ښه نه دی (۱۳.۷٪) او دودونه یې خنډ دي (۱۱.۵٪). جالبه ده چې لومړي دوه مورده ډېر د ښځو له خوا یاد شوي، په داسې حال کې چې وروستي دوه د نرانو له خوا ډېر یاد شوي.

د هندوانو او سیکهانو استازي نریندر سینګهـ زیاته کړه چې د افغانستان دولت له دوی غوښتي ؤ چې وړ ښځې له دولت سره د کار لپاره ور وپېژنو؛ خو دوی د پراخې بې سوادۍ، د لازمو مهارتونو د نشتوالي

1. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf

او ټولنیز مصئونیت د نشتوالي له امله و نه شول کولی هیڅ ښځه دولت ته ور وپیژني.[۱]




۱. له نریندر سینګهـ سره مرکه. کابل. ۲۸ اکتوبر ۲۰۱۸.



## مدني حقونه

د عبدالرحمن په دوره کې او له هغې مخکې د افغانستان هندوانو او سیکهانو پر اسلامي ځمکه د اوسېدو لپاره جزیه ورکوله؛ دا هغه مالیه وه چې په کلني ډول د دولت له خوا اخستل کېده. نور محدودیتونه هم ورباندې اعمالېدل؛ لکه هغوی نشول کولی وسله وګرځوي یا د ښار په منځ کې پر آس وګرځي. البته لوړپوړي مامورین له دې حکم څخه مستثناء ؤ. دا محدودیتونه د امان الله د حاکمیت په دوران کې بدل شول. هغه چې د ټولو عقایدو او ادیانو لپاره یې د برابر چاپېریال د رامنځته کولو لپاره هڅه کوله پر دیني اقلیتونو ټول محدودیتونه یې لغوه کړل.[1] د افغانستان اوسنی اساسي قانون چې د اسلامي فقهې تر اغېز لاندې تسوید او تصویب شوی دی، د هندوانو او سیکاهانو اړوند ډېر تبعیض ډوله مواد پکې تسجیل شوي دي. د اساسي قانون درېیمه ماده ښکاره ده چې هیڅ قانون نشي کولی د اسلام د عقایدو او احکامو سره په ټکر کې تصویب شي او د اساسي قانون ۳۵مه ماده صراحت لري چې د سیاسي ګوندونو اساسنامه باید د اسلام دین له اصولو سره سمښت ولري. سربېره پر دې د اساسي قانون ٦٢مه ماده په دې صراحت سره چې دولت مشر باید مسلمان وي، د غیر مسلمانانو سیاسي ګډون محدودوي.[2] یوه بله څېړنه چې د پرسش بنسټ له خوا ترسره شوې او خپره شوې ښیي، چې د جزاء له نافذ قانون سره سم په هغو مواردو کې چې په اساسي قانون او د جزا په قانون کې مشخص حکم نه وي، دیني او مذهبي اقیتونه د اسلامي شریعت تابع دي او لکه څنګه چې هیڅ خاص قانون د هندوانو او سیکهانو په اړه نه

---

۱. هماغه منبع.

2. Shayegan, Ehsan and Ammaar, Yahya. "Ignored Identities: The Status of Hindus and Sikhs in Afghanistan's Legal System," Porsesh Research and Studies Organization, (page 6-9), 19 November 2016, http://www.porseshresearch.org/porseshv2/wp-content/uploads/2016/11/Ignored-Identities-Status-ofHindus-and-Sikhs-in-Afghanistans-Legal-System.pdf, date accessed 29 December 2018.

دی تصویب شوی، په ډېری مواردو کې د حنفي فقهې تابع دي.

د عبادت گاه د جوړولو اړوند، د دیني مناسکو ترسره کولو او دیني او عقیدتي مناسکو او د مړي د سوزولو مراسمو اړوند د دوی لپاره هیڅ محدودیت نشته او دوی کولی شي خپل ځان لپاره گوردواره او مندر جوړ کړي.[1] دولت د دوی لپاره ځمکه ځانگړې کړه چې دوی وکولی شي د مړي سوځولو مراسم پکې ترسره کړي او د دې مراسمو د امنیت لپاره یې پولیس هم گمارلي دي.[2] خو د افغانستان د سیکهـ نژادو مشهور مدني فعال روال سینگهـ له الجزیره ټلویزیون سره په یوه مرکه کې ویلي دي: «په ۲۰۱۲ میلادي کال کې کله چې هغوی د مړي سوځولو ته ځانگړي شوي ځای کې د مراسمو په ترسره کولو بوخت ؤ، د خلکو له خوا په ډبرو وویشتل شول.»[3] کله چې هم دوی له عمومي خدماتو څخه د برخه منېدو لپاره غوښتنه کوي، د با صلاحیته مقاماتو له خوا تبعیض ورسره کیږي. د بېلگې په توگه، کله چې دوی له حج او اوقافو وزارت څخه غوښتنه وکړه، چې لکه څنگه چې مسجدونو ته وړیا برېښنا ورکوي، د دوی گوردوارو او مندرونو ته هم وړیا برېښنا تامین کړي؛ خو اړوند وزارت څو ځل د دوی دا غوښتنه رد کړې ده. دولت د هندوانو او سیکهانو عبادت ځایونه په سوداگریزو مراکزو کې شماري او د دوی د برېښنا د لگښت پیسې په تجارتي نرخ ترلاسه کوي.[4]

هندوان او سیکهان تل د جایداد د مالکیت، د دوی د غصب شویو ملکیتونو بېرته نه ورگرځول او د ځمکې د شخړو ستونزې د خپلو لویو ستونزو په توگه یادوي. که څه هم په دې برخه کې هیڅ ډول محدودیت نشته، خو په ۲۰۱۵ کال کې د دیني آزادۍ په بین المللي رپوټ کې، چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له خوا خپور شوی، راغلي: «د افغانستان د هندوانو او سیکهانو د ټولنې سرچینې وایي چې د دوی د ټولنې غړي د ځمکې پر سر د شخړو په باره کې اندېښنه لري او په ډېری مواردو کې دوی د خپلو ځمکو او غصب شویو ملکیتونو د اعادې لپاره، د انتقام له وېرې د دعوو له اقامه کولو تېریږي؛ په ځانگړي ډول په هغو مواردو کې چې د دوی ملکیتونه د محلي زورواکو له خوا غصب شوي وي.»

د سیکهانو یو رهبر موږ ته وویل چې د سیمې د خلکو له وېرې دوی نه دي توانیدلي له هغو ځمکو گټه

1. US Department of State, "International Religious Freedom Report for 2015, Afghanistan", (Section II), 10 August 2016, http://www.state.gov/j/drl/rls/irf/religiousfreedom/index.htm?-year=2015&dlid=256299, date accessed 6 January 2017.

۲. هماغه منبع.

3. Kumar, Ruchi. "The decline of Afghanistan's Hindu and Sikh communities." Aljazeera, January 1, 2017. Accessed January 1, 2017. https://www.aljazeera.com/indepth/features/2016/12/decline-afghanistan-hindu-sikh-communities-161225082540860.html

4. Emadi, Hafizullah, "Minorities and marginality: pertinacity of Hindus and Sikhs in a repressive environment in Afghanistan." Nationalities Papers 42 (2014): p-318.

واخلي، چې د دوی د استوګنې یا د مړو د سوځولو د ځایونو لپاره ځانګړي شوي، د ده په وینا ځایي خلکو ویلي چې دغه ځمکې خصوصي ملکیت دی او دولت یې سیکهانو ته د ورکولو صلاحیت نه لري. هغه وویل د سیمې خلک له دې ځمکې د ډېران استفاده کوي. د جګړې اوسلې د راپور ورکولو انسټیټوټ هم اشاره کوي چې د کابل ښاروالۍ په ۲۱مه ناحیه کې یوه اندازه ځمکې دوی ته ځانګړې کړي، چې ښوونځی، کور او د مړو د سوځولو ځایونه پکې جوړ کړي، خو که څه هم چې ښاروالۍ دوی ته د دې ځایونو په ودانولو کې د همکارۍ وعده ورکړې، خو هندوان او سیکهان د دوی د استوګنې له ځای څخه د دې ځمکو د لرې والي او د امنیتي اندېښنو له امله، د حکوت د طرحې هرکلی نه دی کړ.[1]

که څه هم ښوونځیو او پوهنتونونو ته د هندوانو او سیکهانو د لاسرسي په مخ کې هیڅ حقوقي او قانوني محدودیت نشته، خو دا چې په ښوونځو کې دوی له پراخ تبعیض سره مخ کیږي[2] د هغو کسانو شمېر چې له دې ټولنې څخه لېسې ته لار پیدا کړي په عمل کې صفر دی؛ په همدې دلیل، د دې ټولنې ټول غړي بې سواده دي. له خپلې ټولنې بهر د هندو او سیکهـ ټولنې د یو غړي واده د قانون پر وړاندې اعتبار نه لري؛ مګر دا چې هغه هندو یا سیکهـ اسلام دین ومني.

1. Institute for War and Peace Reporting, ‘Tough times for Afghan Hindus and Sikhs’, dated 11 July 2013, https://iwpr.net/global-voices/tough-times-afghan-hindus-and-sikhs, date accessed 20 January 2015

۲. شایګان، عابر. ولې هیڅ هندو او سیکهـ په افغانستان کې پوهنتون ته لار نه مومي؟ اطلاعات روز ورځپاڼه. جولای ۲۰۱۸. لاسرسی د ډسامبر ۲۰ مه ۲۰۱۸ کال. انټرنیټي پته: https://etilaatroz.com/62989/

## *قضايي دستگاه او د شخړو هواری*

**کلیدي پوښتنې**

۳۷ پوښتنه: آیا ستاسو د کورنۍ کوم غړي کله د یوې حقوقي قضیې د هواري لپاره محکمې ته مراجعه کړې ده؟

۳۸ پوښتنه: (که د ۳۷ پوښتنې ځواب «نه» وي) دلیل څه دی چې تاسو هیڅکله د یوې حقوقي قضیې د هواري لپاره محکمې ته مراجعه نه ده کړې؟

۴۰ پوښتنه: زه تاسو ته د شخړو یو فهرست لولم. که تاسو په تېرو لسو کلنو کې داسې کومه شخړه درلودلې وي، مهرباني وکړئ راته ووایاست. (الف) د ځمکې پر سر شخړه؛ (ب) له ځمکې پرته د نور جایداد پر سر شخړه؛ (پ) سوداگریزه شخړه؛ (ت) طلاق؛ (ټ) کورنۍ ستونزې؛ (ث) ترافیکي پېښه؛ (ج) نورې شخړې

۴۱ پوښتنه: (که د ۴۰ پوښتنې ځواب «هو» وي) د قضیې بل لوری څوک ؤ؟

۴۲ پوښتنه: (که د ۴۰ پوښتنې ځواب «هو» وي) تاسو د قضیې د درج او ثبت لپاره چا ته مراجعه کوئ؟


۴۳ پوښتنه: (که د ۴۰ پوښتنې ته ځواب ورکړل شوی وي) د قضیې اړوند له شوې پرېکړې څومره رضایت لرئ؟ ډېر راضي یاست، تر یو حده راضي یاست که بیخي نه یاست راضي؟

یواځې ۷٪ ځواب ورکوونکو وویل چې د دوی د کورنۍ غړیو د حقوقي موضوع د پرېکړې لپاره محکمې ته مراجعه کړې. په دې نظر پوښتنه کې نه ده مشخص شوې چې د دې چارې لامل د حقوقي شخړو تیټه کچه ده که پر عدلي او قضایي دستگاه د اعتماد نشتوالی او که په دې اړه نه پوهاوی. د هغو کسانو له منځه چې و ویې ویل د کورنۍ یو غړي یې د حقوقي شخړې د پرېکړې لپاره محکمې ته مراجعه کړې ده، شپږو تنو وویل چې محکمې موضوع د دوی په گټه فیصله کړې. پینځه تنه په دې باور ؤ چې محکمې د دوی قضیه نه ده فیصله کړې. له دې ور هاخوا، دولس تنو موږ ته وویل چې دوی پر محکمې د باور د نشتوالي له امله او د اداري فساد له امله محکمې ته له مراجعې تېر شول.




تر ټولو عام ډول شخړه چې ځواب ورکوونکو د هغې د پرېکړې لپاره محکمې ته مراجعه کړې وه، د ځمکې دعوه وه، چې د ۵.۹٪ ځواب ورکوونکو له خوا اقامه شوې وه؛ ورپسې له ترافیکي پېښو راپورته شوې شخړې ۳.۵٪ وې. په دې قضیو کې د قضیې بل لوری عادي خلک، جنګسالاران او د مدعي خپلوان دي. یو شمېر دا قضیې مسئولو مقاماتو ته، لکه پولیس محکمې ته رپوټ شوي دي. په عمومي توګه، د محکمې د پرېکړې په اړه د ځواب ورکوونکو د رضایت کچه متفاوته وه. داسې موارد هم ؤ چې محکمې له دوی غوښتنه کړې، وړاندې له دې چې محکمه وکولی شي د دوی د قضیې په اړه یو حکم صادر کړي، دوی باید ثابته کړي چې د افغانستان تبعه دي.[1]

۱. له روچي کمار سره مرکه. کابل. ۱ نوامبر ۲۰۱۸.




## *دیني آزادي*


۴۴ پوښتنه: آیا تاسو کله ... (الف) اړ شوي یاست چې د اسلام دین ته خپله عقیده بدله کړئ؟ (ب) اړ شوي یاست چې جزیه ورکړئ (مشخصه مالیه چې د اسلامي حکومت په قلمرو کې مېشت غیر مسلمانان یې باید ورکړي)؟

۴۵ پوښتنه: (که د ۴۴ پوښتنې ځواب «هو» وي) مهرباني وکړئ ووایاست د چا له خوا؟

هندوانو او سیکهانو سلګونه کلونه پر دې ځمکه د مسلمانانو په خوا کې ژوند کړی. دوی د خپلې عقیدې د توپیر له امله بېلابېل چلندونه لیدلي دي. لکه، په ځینو مواردو کې هندوان او سیکهان د جزیې په ورکړه مجبور شوي دي؛ هغه مشخصه مالیه چې باید د هغو غیرمسلمانانو له خوا، چې په اسلامي قلمرو کې ژوند کوي، ورکړل شي. کله مو چې له هغوی وپوښتل چې کله د اسلام دین ته په اوښتلو یا د جزیې په ورکړه مجبور کړای شوي یاست که نه، ۱۸.۲٪ وویل چې اسلام دین ته په اوښتلو مجبور شوي دي او ٦.٥٪ نورو وویل چې جزیه یې ورکړې. په غزني کې، هغه ولایت چې هلته د کابل او ننګرهار په پرتله امنیتي وضعیت وخیم دی، ډېرو ځواب ورکوونکو (۱۱.۹٪) وویل چې جزیه یې ورکړې. داسې رپوټونه

شته چې پر غزني ښار له برید وړاندې، طالبانو د دې ښار د بېلابېلو سېمو له خلکو مالیه ټولوله.[۱] داسې ښکاري چې د غزني ښار د ځانګړو برخو ډېری اوسیدونکو د مجبوریت له امله طالبانو ته مالیه ورکوله. که څه هم هیڅ کره رپوټ نشته چې په دې سیمو کې په ځانګړي ډول هندو او سیکهـ هیوادوال د طالبانو د مالیه اخستلو قرباني دي، دا احتمال شته چې طالبانو دې د دې سیمو له مېشتو هندوانو او سیکهانو څخه جزیه اخستې وي.

لومړی ډله، چې ځواب ورکوونکو د جزیې د راټولوونکو په توګه یاد کړل، طالبان ؤ. خو د دې نظرپوښتنې ځواب ورکوونکو وویل چې عادي خلکو یا نامعلومو افرادو دوی اسلام دین ته پر اوښتلو مجبور کړي دي. یواځې محدود شمېر ځواب ورکوونکو طالبان اسلام دین ته په زور د دوی په اړولو تورن کړل؛ دا هغه چاره ده چې له ۱۹۹۷ څخه تر ۲۰۰۱ کلونو کې د طالبانو له سیاست سره اړخ لګوي.




1. Sukhanyar, Jawad “When the Taliban Are at the Gates, a City Has One Choice: Pay Up”, The New York Times, May 7, 2018: https://www.nytimes.com/2018/05/07/world/asia/afghanistan-taliban-ghazni.html



## مهاجرت

یو تحقیقي رپوټ چې د طلوع نیوز له خوا خپور شوی ښیي چې په ۱۹۸۰ میلادي لسیزه کې د افغانستان د هندوانو او سیکهانو نفوس د ۲۲۰ زرو تنو شاوخوا و. د همدې رپوټ مطابق، په ۱۹۹۰ میلادي لسیزه کې چې د مجاهدینو حکومت صحنې ته راغی، د دوی نفوس ۱۵۰۰۰ تنو ته راکم شو او دا مهال د ۱۳۵۰ تنو په شاوخوا کې په افغانستان کې پاتې دي.[۱]

په ۲۰۱۴ میلادي کال کې د انګلستان د ایسکس ښار په تیلبري بندر کې مسئولین متوجه شول چې د بلجیم له زیبروګ ښار څخه په یو کانتینر کې ۳۵ تنه سیکهان نران، ښځې او ماشومان انګلستان ته راغلي. کله چې د دوی په منځ کې یو مړ هم ولیدل شو، مسئولینو په دې اړه څېړنې ترسره کړې او په پایله کې معلومه شوه چې دا پناه غوښتونکي د افغانستان د سیکهانو په ټولنې پورې اړه لري. دا خبر هغه مهال ډېر لړزوونکی و ځکه چا د افغانستان د هندوانو او سیکهانو په اړه معلومات نه درلودل.[۲]

دا مهال هندوان او سکهان نه یواځې له امنیتي تهدیدونو سره مخ دي، بلکې د نورو خلکو له خصومتونو هم په عذاب دي. په هیواد کې د دیني تندلارۍ د ودې له امله د دوی ملکیت، عقیدې او مناسکو ته تهدیدونه په زیاتېدو دي. له کلیو او لرې پرتو سیمو لویو ښارونو ته د هندوانو او سیکهانو مهاجرت، وروسته نوي ډیلي ته او له هغه ځایه اروپایي هیوادونو ته دوام لري. د هغو افغانانو د شمېر په اړه دقیق او موثق معلومات نشته چې په ډیلي کې ژوند کوي؛ خو د یوې څېړنې پر بنسټ چې د انویشه ګوش

1. TOLOnews. "Nearly 99% of Hindus, Sikhs left Afghanistan in last three decades." Tolonews Website, 20 June, 2016. Accessed on November 10, 2018. https://www.tolonews.com/afghanistan/nearly-99-hindus-sikhs-left-afghanistan-last-three-decades
2. Tran, Mark. "Group found in container at Tilbury includes 13 children." The Guardian, 17 August, 2014. Accessed on January 5, 2019. https://www.theguardian.com/uk-news/2014/aug/17/tilbury-container-sikhs-afghanistan-essex-police

له خوا د ۱۹۹۰ کال په وروستیو کې ترسره شوې، په هغه وخت کې د ۶۰ زرو په شاوخوا کې افغانانو په هندوستان کې ژوند کاوه، چې له جملې څخه یې یواځې د ۱۶ زرو په شاوخوا کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمشنرۍ د مهاجرت تصدیق پاڼه درلوده.

د نوي ډیلي په اړه په ۲۰۱۶ کال کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمشنرۍ د رپوټ پر بنسټ، هندوستان د ۱۳۳۸۱ تنو افغان کډوالو کوربه دی چې ډېری د دې هیواد په پلازمېنه او د پلازمېنې شاوخوا مېشت دي. دا خیریه بنسټ، چې د خالصه دیوان رفاهي ټولنې په نوم د افغانستان د هندوانو او سیکهانو له خوا په ډیلي کې فعالیت کوي، براورد کوي چې په هندوستان کې د افغان کډوالو او پناه غوښتونکو شمېر له ۱۵۰۰۰ تنو زیات دی؛ البته د یادونې وړ ده چې دا شمېر په تېرو څو لسیزو کې غربي هیوادونو ته د بې شمېره ډله ییزو مهاجرتونو څخه وروسته براورد شوی دی.[۱] په ډیلي کې د دې افغان پناه غوښتونکو او کډوالو په منځ کې، د پام وړ شمېر یې هندوان او سیکهان دي. په وروستیو کې د هندوستان پارلمان یوه لایحه تصویب کړه چې له دې لایحې سره سم د هندوستان دولت کولی شي له افغانستان، پاکستان او بنګله دېش څخه دیني اقلیتونو ته پناه ورکړي.[۲] دا لایحه تر اوسه د هندوستان د مشرانو جرګې له خوا نه ده تصویب شوې. څنګه چې دا لایحه د هندوستان د مشرانو جرګې له خوا تائید شي، د افغانستان ډېر شمېر هندوان او سیکهان به د هندوستان د تابعیت د ترلاسه کولو لپاره هغې هیواد ته مهاجر شي.

د دوی له استازو سره زموږ د وروستیو خبرو پر بنسټ، د ۲۰۱۸ کال له جولای تر نوامبر پورې، د هندوانو او سیکهانو پنځوس کورنیو افغانستان پرېښی او هندوستان ته تللي.

په کاناډا کې د میشتو هندوانو د ټولنې د پرله پسې لابي په نتیجه کې، د کاناډا د کډوالۍ او شهروندۍ وزیر احمد حسین خبریالانو ته وویل، د کاناډا دولت په داسې طرحه کار کوي چې له مخې به یې یو کاناډایي خصوصي بنسټ د افغانستان هندوان او سیکهان تمویل کړي، څو وکولی شي کاناډا ته مهاجر شي.[۳] په دې خبر پسې، د ۲۰۱۸ میلادي د ډسامبر پر ۱۲مه نېټه جمهور رئیس اشرف غني

1. Ghosh, Anwesha. "Longing to belong: Afghan Sikhs and Hindus in India." The Diplomat, 19 August, 2016. Accessed on January 6, 2019. https://thediplomat.com/2016/08/longing-to-belong-afghan-sikhs-and-hindus-in-india/
2. Hussain, Wasbir. "India's lower house possess citizenship bill despite protests." The Washington Post, 8 January, 2019. Accessed on January 12, 2019. https://www.washingtonpost.com/world/asia_pacific/citizenship-bill-protest-nearly-shuts-down-indias-northeast/2019/01/08/047857fc-133b-11e9-ab79-30cd4f7926f2_story.html?noredirect=on&utm_term=.aeab2ae566c4
3. News Agency. "Canada working to offer shelter to Afghan Hindus, Sikhs." TOLOnews, 29 November, 2018. Accessed on January 12, 2019. https://www.tolonews.com/afghanistan/canada-working-offer-shelter-afghan-hindus-sikhs

د افغانستان د جمهوري رياست په ارګ ماڼۍ کې د هندوانو او سیکهانو له استازو سره وکتل چې د دوی ستونزو ته رسیدګي وکړي. وروسته جمهور رئیس اړوندو مسئولینو ته لارښوونه وکړه چې له ولایتونو څخه د هندوانو او سیکهانو ټولې حقوقي قضیې کابل ته ولېږدوي او د مراحلو د ترسره کولو لپاره یې یوه ځانګړې برخه رامنځته کړي. سربېره پر دې، جمهور رئیس خپل د ملي امنیت مشاور ته دنده وسپارله چې د جمهور رئیس کرزي فرمان چې په ننګرهار ولایت کې هندوانو او سیکهانو ته د ۱٦۰ نومرو ځمکې ځانګړې کولو په برخه کې صادر شوی وی، تعقیب کړي او د دوی د ملکیتونو د غصب د مخنیوي لپاره لازم اقدامات ترسره کړي. په دې ناسته کې جمهور رئیس همدا راز وعده وکړه چې د هندوانو او سیکهانو د مشورتي کمېټې په رامنځته کولو به تصمیم ونیسي.[۱] د افغانستان دولت د دې هیواد له هندوانو او سیکهانو سره ډېرې وعدې کړې دي؛ خو په عمل کې یې کار نه دی کړی. دولت همدا راز د دوی د لازم مصئونیت او د وضعیت ښه کولو په برخه کې ناکام ؤ.[۲]

د نظرپوښتنې په دې برخه کې کوښښ کوو کډوالۍ ته د هندوانو او سیکهانو لېوالتیا و ارزوو او د کډوالۍ پر عواملو او لاملونو یې رڼا واچوو.

### *مهاجرت ته لېوالتیا*

**کلیدي پوښتنې**

۴٦ پوښتنه: که فرصت برابر وي، آیا غواړئ افغانستان پرېږدئ او په بل هیواد کې پناه واخلئ؟

۴۷ پوښتنه: (که د ۴٦ پوښتنې ځواب «هو» وي) ولې غواړئ افغانستان پرېږدئ؟

۴۸ پوښتنه: (که د ۴٦ پوښتنې ځواب «نه» وي) ولې غواړئ په افغانستان کې پاتې شئ؟

۴۹ پوښتنه: (که د ۴٦ پوښتنې ځواب «هو» وي) په کوم هیواد کې غواړئ ژوند وکړئ؟

۵۰ پوښتنه: آیا د کورنۍ کوم غړی مو له افغانستانه بهر ژوند کوي؟

۵۱ پوښتنه: (که د ۵۰ پوښتنې ځواب «هو» وي) په کوم هیواد کې؟

۵۲ پوښتنه: (که د ۵۰ پوښتنې ځواب «هو» وي) ولې یې افغانستان پرېښی؟

۵۳ پوښتنه: (که د ۵۰ پوښتنې ځواب «هو» وي) آیا هغه\هغوی تاسو سره مالي مرسته کړې ده؟ مثلاً تاسو ته پیسې رالېږي؟

---

1. Manager. "Sikh minority are part of Afghanistan's glowing history." BAKHTARNews, 12 December, 2018. Accessed on 12 January, 2019. http://www.bakhtarnews.com.af/eng/politics/item/36074-%E2%80%9Csikh-minority-are-part-of-afghanistan%E2%80%99s-glowing-history%E2%80%9D-president-ghani.html

۲. له رهنورد زریاب سره مرکه. کابل. ۱۷ نوامبر ۲۰۱۸.


په ټوله کې ٪٦۰.۷ ځواب ورکوونکو وویل، په هغه صورت کې چې فرصت برابر وي، غواړي افغانستان پرېږدي؛ یواځې ٪۳۷.۹ وویل چې غواړي په افغانستان کې پاتې شي. دا شمېره د افغانستان د ټولو خلکو په پرتله لوړه ده. د افغانستان د خلکو له نظرپوښتنې سره سم، چې په ۲۰۱۸ کال کې د آسیا بنسټ له خوا خپره شوې، ٪۳٦.۸ افغانانو ویلي، په هغه صورت کې چې زمینه برابره وي، افغانستان پرېږدي.[1] باید یادونه وشي چې د هندو او سیکهـ نرانو په منځ کې مهاجرت ته لېوالتیا ډېره ده (٪٦۷.۹ نران او ٪۵۳.۳ ښځې) مهاجرت ته لېوالتیا لري. د دې تر څنګ، د کابل د ځواب ورکوونکو (٪٦۴.۸) او د غزني (٪۳۴.۲) په پرتله په ننګرهار کې ځواب ورکوونکي مهاجرت ته ډېره لېوالتیا لري (٪۷۸.۵). د یادونې وړ ده چې د ځواب ورکوونکو د عمر او د مهاجرت د لېوالتیا تر منځ منفي اړیکه شته؛ که څه هم دا اړیکه چندان پیاوړې نه ده. په دې معنا چې د عمر خوړلیو په نسبت ځوانو ځواب ورکوونکو مهاجرت ته ډېره لېوالتیا وښوده.[2] دا موندنه د تعجب وړ نه ده، ځکه د هغو ستونزو سربېره چې ټول افغانان ورسره لاس و ګرېوان دي، هندو او سیکهـ ځوانان دوه چنده د کار په بازار کې او ښوونځي او پوهنتون ته په لاسرسي کې له تبعیض سره مخامخ دي.

د جنسیت او ولایت پر بنسټ مهاجرت ته لېوالتیا




1. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf
2. Those who wish to migrate has an average age of 35.173 (SD = 1.0), and those who do not wish to migrate has an average age of 36.788 (SD = 1.5). The two groups are not statistically different (ttest: t = -0.9243, P = 0.3561)


هغه ځواب ورکوونکي چې د مهاجرت د فرصت برابرېدو په صورت کې یې مهاجرت ته لېوالتیا وښوده، دا دلایل یې یاد کړل: ناامني\جګړه\ځامرګي بریدونه (۶۷.۹٪)، بېکاري (۳۱٪) او تعلیم ته نه لاسرسی\بې سوادي (۱۹.۶٪). ناامني او بېکاري د غزني ولایت د ځواب ورکوونکو له خوا ډېر یاد شول (۷۶.۹٪ ناامني؛ ۳۴.۶٪ بېکاري). د ننګرهار او کابل ولایت ځواب ورکوونکو تعلیم او ښوونځي ته نه لاسرسی ډېر یاد کړ (۲۹.۲٪ او ۱۷.۶٪ په ترتیب سره) د یادونې وړ ده چې د هندوانو او سیکهانو له خوا یاد شوي دلایل په ملي کچه د ټولو هیوادوالو له خوا د مهاجرت له دلایلو سره ورته والی لري. په ۲۰۱۸ کال کې د افغانستان د خلکو له نظر پوښتنې سره سم چې د آسیا بنسټ له خوا ترسره شوې، د مهاجرت دوه لوی دلایل ناامني (۷۴.۶٪) او بېکاري (۵۱.۵٪) دي چې د هندوانو او سیکهانو له ځوابونو سره پوره ورته والی لري.[۱]




۳۷.۹٪ هغو کسانو چې ویلي یې دي حتا که چېرې فرصت هم برابر شي افغانستان به پرې نږدي، دا دلایل یې یاد کړل: افغان یم یا دلته لوی شوی یم (۷۸.۴٪)، افغانستان سره مینه لرم یا افغانستان ښکلی هیواد دی (۲۱.۶٪) او نور مشروط دلایل لکه که سوله تامین شي هیواد نه پرېږدم (۹.۸٪) یا

1. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf


که کار پیدا شي هیواد نه پرېږدم (۲٪). دا مشروط دلایل هم له افغانستانه د ځواب ورکوونکي د مهاجر کېدو لېوالتیا ښيي. د دې تر څنګ، ٦.٨٪ ځواب ورکوونکو په هیواد کې د پاتې کېدو دلیل دا وښود چې پیسې او د مهاجرت لګښتونه نه لري.[۱] د یادونې وړ ده چې په ۲۰۱۸ کال کې د افغانستان د خلکو له نظر پوښتنې سره سم د ټولو افغانانو په منځ کې هم افغاني هویت په افغانستان کې د پاتې کېدو د یو دلیل په توګه یاد شوی دی.[۲]




د هغو کسانو له منځه چې د فرصت برابرېدو په صورت کې یې مهاجرت ته لېوالتیا وښوده، ۴۵.۲٪ یې وویل چې غواړي هندوستان یا پاکستان ته مهاجر شي؛ ۱۹.٦٪ وویل هیله لري اروپا ته لاړ شي؛ ۱۸.۵٪ وویل غواړي کاناډا ته لاړ شي؛ ۱۷.۳٪ وویل لېواله دي چې انګلستان ته مهاجرت وکړي؛ او ۱۲.۵٪ وویل هر هیواد چې د دوی ساتنه کوي غواړي هلته مهاجر شي. هندوستان او پاکستان د ډېرو هندوانو او سیکهانو کور دی او داسې رپوټونه شته چې دې دواړو هیوادونو ته د افغانستان د هندوانو او سیکهانو د لویو ډلو د مهاجرت کیسه کوي. خو داسې رپوټونه هم شته چې ډېرى هندوان او سیکهان هندوستان

۱. له دلیپ سینګهـ سره مرکه. غزني. ۲۳ نوامبر ۲۰۱۸.
2. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf


د خپلې خاورې په توګه نه ګڼي او نه غواړي هلته پناه واخلي. هغوی غواړي د هندوستان له لارې غربي هیوادونو کې پناه واخلي.[۱]





په یو بهرني هیواد کې د کورنۍ د یو غړي درلودل د مهاجرت لپاره د تشویقوونکي عامل په توګه ګڼل کیږي. هغه ځواب ورکوونکي چې د کورنۍ کوم غړی یې په بهر کې ژوند کوي، دوی په بهرنیو هیوادونو کې د ژوند او د مهاجرت د بهیر په اړه ډېر معلومات ترلاسه کوي او د مهاجرت لپاره د اقدام په صورت کې یې د هغوی له خوا ملاتړ کیږي. په همدې دلیل، دا چاره د دوی د مهاجرت احتمال زیاتوي. په ټوله کې ۴٦.۵٪ ځواب ورکوونکو وویل چې د کورنۍ یو غړی یا خپلوان یې له هیواده بهر ژوند کوي په ملي کچه د ټولو افغانانو له ځواب څخه (۴۲٪) لږ لوړه ده (د افغانستان د خلکو نظرپوښتنه ۲۰۱۸).[۲] په کابل ولایت کې اکثریت ځواب ورکوونکو (٦۳.۲٪) وویل چې د کورنۍ یو غړی یا خپلوان یې له هیواده بهر ژوند کوي په داسې حال کې چې په غزني (۴۵.۲٪) او ننګرهار کې (۲٦.۲٪) دغه شمېره کمه وه. په بهر کې د

1. Yudhvir, Rana, "Don't want to migrate to India: Afghan Sikhs", The Times of India, July 6, 2018: https://timesofindia.indiatimes.com/city/amritsar/dont-want-to-migrate-to-india-afghan-sikhs/articleshow/64876621.cms
2. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf

کورنۍ د غړي یا خپلوانو د اوسېدو او د مهاجرت لېوالتیا تر منځ اړیکه پیاوړې ده.[۱]





هغه هیوادونه چې ځواب ورکوونکو وویل هلته یې د کورنۍ کوم غړی یا خپلوان ژوند کوي، هندوستان (٦٧.٢٪) او انګلستان (۴۴.۳٪) په سر کې ځای لري. دا هیوادونه همدا راز د هغو هیوادونو د نوملړ په سر کې دي چې دوی غواړي هلته مهاجر شي. سره له دې دا دوه هیوادونه د هندوانو او سیکهانو د لوی نفوس او افغان مهاجرو کوربه دي.




1. Pearson (1) = 4.1617, P = 0.041

که څه هم د هغو پیسو کره شمېره نشته چې افغان مهاجرین یې په افغانستان کې خپلو کورنیو ته لیږي، خو د هغو افغانانو شمېر چې په بهر کې ژوند کوي ډېر زیات دی او په قوي احتمال سره هغوی افغانستان ته پیسې رالیږي. کله مو چې له ځواب ورکوونکو په دې اړه پوښتنه وکړه، ډېرو کمو ۱.۷٪ وویل چې له بهره ورته پیسې رالېږل کیږي. د دې دلیل معلوم نه دی، چې په بهر کې د کورنۍ د غړو دلودو او اقتصادي ستونزو سره سره، ولې د افغانستان هندوان او سیکهان له بهره پیسې نه ترلاسه کوي.




## د مهاجرت له لېوالتیا سره تړلي عوامل

که څه هم ډېری هندو او سیکهـ ځواب ورکوونکو (۶۰.۷٪) مهاجرت ته لېوالتیا ونښوده، د مهاجرت د اقدام تصمیم نیونه په عمومي توګه ډېره پېچلې ده. په دې تصمیم نیونه کې ډېر عوامل نقش لري او بهیر یې اغېزمنوي. یوه کټګوري عوامل «اړیستونکي» دي چې د افغانستان په وضعیت او شرایطو پورې اړه لري؛ بله کټګوري هم «تشویقوونکي» عوامل دي چې له افغانستان بهر په شرایطو پورې تړلي دي. که څه هم په دې نظر پوښتنه کې د اړیستونکو او تشویقوونکو عواملو په اړه مستقیمې پوښتنې نه دي شوې، خو د نورو پوښتنو ځوابونه په غیر مستقیم ډول په دې برخه رڼا اچوي. خو په یاد ولرو چې مهاجرت ته لېوالتیا خامخا د مهاجرت د عملي تصمیم معنا نه لري. له بل پلوه، دا هم په یاد ولرو چې مهاجرت ته د لېوالتیا او د مهاجرت په تصمیم نیونه کې د دخیلو عواملو تر منځ اړیکه خامخا علل معلولي نه ده؛ بلکې

د پیوستون اړیکه لري.

لکه څنګه چې تمه کېږي، هغه نارینه چې لوړې زده کړې او کورنۍ یې ډېره ګټه لري، په هغه صورت کې چې شرایط برابر وي مهاجرت ته ډېره لېوالتیا ښیي. په ۲۰۱۸ کال کې د افغانستان د خلکو د نظرپوښتنې موندنې چې د آسیا بنسټ له خوا ترسره شوې هم دا مسئله تاییدوي.[1] سربېره پر دې، عمر د مهاجرت له لېوالتیا سره معنا لرونکې اړیکه نه لري. د دې تر څنګ، د هیواد د حرکت د لوري په اړه د ځواب ورکوونکي د برداشت ډول، د مهاجرت د فرصت لرلو سره سره په افغانستان کې د پاتې کېدو له لېوالتیا سره، مخامخ اړیکه لري. پر شخصي مصئونیت وېرېدلو، په رایه ورکولو کې له ګډون څخه وېرې او په سوله ییزو لاریونونو کې له ګډون څخه د وېرې او د مهاجرت د لېوالتیا تر منځ مخامخ اړیکه شته. همدا راز، د ځواب ورکوونکو د املاکو د غصب د تجربې او مهاجرت ته د دوی د لېوالتیا تر منځ هم مخامخ اړیکه شته. هندوان او سیکهان په تېرو لسیزو کې د ځمکې د غصب قربانیان ؤ. د تبعیض تجربه، په مشخص ډول په ښوونځي کې تبعیض هم مهاجرت ته له لېوالتیا سره مخامخ اړیکه لري. د «اړیستونکو» څو عواملو سربېره چې یاد شول، زموږ موندنې ښیي چې په بهر کې د کورنۍ د غړي درلودل لوی «تشویقوونکی» عامل دی. لاندې جدول مهاجرت ته له لېوالتیا سره تړلي عوامل په لنډه توګه توضیح کوي.

| |
|---|
| د افغانستان د پرېښودو له لېوالتیا سره تړلي عوامل |
| نران مهاجرت ته ډېره لېوالتیا ښیي |
| هغه ځواب ورکوونکي چې کورنۍ یې ډېره ګټه وټه لري، مهاجرت ته ډېره لېوالتیا ښیي |
| هغه ځواب ورکوونکي چې د تحصیل کچه یې لوړه ده، مهاجرت ته ډېره لېوالتیا ښیي |
| هغه ځواب ورکوونکي چې د هیواد د حرکت د لوري په اړه بدبینه دي، مهاجرت ته ډېره لېوالتیا ښیي |
| هغه ځواب ورکوونکي چې د خپل فردي مصئونیت په اړه وېره لري، مهاجرت ته ډېره لېوالتیا ښیي |
| هغه ځواب ورکوونکي چې په رایه ورکولو یا سوله ییزو لاریونونو کې له ګډون څه ویرېږي، مهاجرت ته ډېره لېوالتیا ښیي |
| هغه ځواب ورکوونکي چې د ځمکې یا جایداد د غصب قرباني شوي، مهاجرت ته ډېره لېوالتیا ښیي |
| هغه ځواب ورکوونکي چې په بهر کې د کورنۍ غړی لري، مهاجرت ته ډېره لېوالتیا ښیي |
| هغه ځواب ورکوونکي چې په ښوونځي یا پوهنتون کې له تبعیض سره مخ شوي، مهاجرت ته ډېره لېوالتیا ښیي |

1. The Asia Foundation, Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People, San Francisco: The Asia Foundation, 2018: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2018/12/2018_Afghan-Survey_fullReport-12.4.18.pdf

## ټولنيز ادغام

که د افغانستان په برخه کې د ديني زغم اړوند توليد شويو ادبياتو ته ځغلند نظر وکړو، وينو چې د هندوانو او سيکهانو پر وړاندې د زغم او تساهل په اړه يواځې کُلي اشارې شته. شايد ډېر خلک د بي بي رادو جان (د نرانجان داس لور) له هغې عاميانه او مشهورې ترانې سره آشنا وي، چې استاد ناشناس ويلې ده. دا ترانه د افغانستان د هندوانو او سيکهانو اړوند د پخواني کابل د اوسيدونکو د زغم ښکارندويي کوي. بايد يادونه وکړو چې (بي بي) کلمه په ديني سياق کې د احترام وړ ديني ښځې ته کارېدله.[۱]

کله چې د ټولنيز ادغام يادونه کوو، ډېر تاکيد د مجاهدينو د حکومت پر مهال او له هغې ورسته دی. له هغې وړاندې، د افغانستان حکومتونو د هندوانو او سيکهانو ملاتړ کاوه او د دوی د ادغام زمينه يې په ټولنه او عمومي او سياسي برخو کې برابروله. د امان الله، ظاهرشاه او د افغانستان د خلق ډيموکراټيک گوند وختونه د هندوانو او سيکهانو لپاره ښې دورې وې، ځکه دې حکومتونو د هيواد د ټولو دينونو د مذهبي وحدت د تامين او تضمين په برخه کې فرمانونه صادرول او پر هغې يې عمل کاوه. پر همدې دليل، د مسلمانانو او هندو او سيکهـ ټولنې تر منځ پراخ تفاهم موجود و او په سوله او هوساينه کې سره اوسېدل. خو د بنسټپالو افکارو له ودې سره سم، له اسلام څخه تنگ نظره تفسيرونو او په افغانستان کې پر نشنليزم وياړ هر څه خراب کړل.

له هندوانو او سيکهانو سره د ديني زغم نه درلودلو ډېر اسناد شته.[۲] د بېلگې په توگه، د قلاچې په سيمه کې د مسلمانانو او هندوانو او سيکهانو تر منځ د مړي د سوځولو پر مسئله شخړه راغله.[۳] دا هديره په

۱. له رهنورد زرياب سره مرکه. کابل. ۱۷ نوامبر ۲۰۱۸.
2. Arabzadah, Nushin. “Afghan Sikhs: Forgotten Victims.” The Guardian, July 6, 2010. January 2, 2019. https://www.theguardian.com/commentisfree/belief/2010/jul/06/afghanistan-sikhs-persecution
3. Foschini, Fabrizio, “The Other Fold of the Turban: Afghanistan’s Hindus and Sikhs,” Afghan-

یوه لرې پراته ځای کې او له ښاره بهر جوړه شوې و او هندوانو او سیکهانو د مړي د سوځولو د مراسمو ترسره کولو لپاره ترې ګټه اخیسته. خو په دې وروستیو کې د ښار له پراخېدو او د نفوسو د زیاتېدو له امله، ډېر خلک د هغې سیمې شاوخوا اوسیږي او د مړي د سوځولو له لوګي څخه شکایت لري. له بل پلوه هندوان او سیکهان هم شکایت لري چې د مړي د سوځولو د مراسمو پر مهال د خلکو له خوا په ډبرو ویشتل کیږي.[1] دا مسئله لا هم هواره نه ده او د مړي د سوځولو د مراسمو پر مهال پولیس اړ دي چې د مراسمو امنیت خوندي کړي.

د فبریزیو فوشیني د ویناوو پر بنسټ، امان الله د هندوانو او مسلمانانو د یووالي کارت ځکه لوباوه چې د آسیا د یووالي فکر یې په سر کې و او غوښتل یې په افغانستان کې خپل نوي پروګرامونه پلي کړي. د افغان-انګلیس له دریېمې جګړې وروسته امان الله یو سیکهـ نژاده بانفوذه ملکي مامور د افغانستان د مذاکرې د پلاوي په ترکیب کې ځای کړ چې په راولپنډۍ او میسور کې له انګرېزانو سره خبرې اترې وکړي؛ دې کار د انګرېزانو غوسه را وپاروله او هندوستان یې خوشحاله کړ. د فوشیني په وینا: «خو د هغه اقدامات له دې سمبولیک حرکت څخه ور هاخوا ؤ: هغه جزیه لغوه کړه او هندنوان او سیکهان یې تشویق کړل چې د دولتي تعلیمي نظام په رامنځته کولو کې ښکاره برخه واخلي او په دې سره یې هندوانو او سیکهانو ته عملاً له مسلمانانو سره برابر ځای ورکړ.» دا وضعیت د مجاهدینو او طالبانو په ظهور سره له منځه ولاړ. طالبانو هندوان او سیکهان اړیستل چې له نورو افغانانو سره د تفکیک لپاره زیړه ټوټه پر تن کړي.

فوشیني توضیح ورکوي چې د طالبانو د دې فرمان «جزئیات» ډېر ټکوونکي ؤ او له دې فرمان سره سم هندو او سیکهـ نرانو باید زیړه پګړۍ تړلې وای او ښځو یې زیړې جامې پر تن کړې وای. د هندوانو دوکانونه او تجارتي مرکزونه باید په زیړ رنګ په نښه شوي وای ځکه هغوی له مسلمانانو سره له نږدې اوسېدو څخه منعه شوي ؤ.[2] دې ډول تندروه اقداماتو د افغانستان د داخلي جګړو په دوره کې د هندوانو په اړه د افغانستان د خلکو نظرونه وپاشل. په ۲۰۱۲ کې د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ د سیمه ییزې نماندګۍ له خوا په یو رسمي رپوټ کې د غربي اروپا د هیوادونو په ادرس لیکلي، چې د افغانستان له هندوانو او سیکهانو سره ټولنیز خصومت حتا د طالبانو له سقوط وروسته هم نه دی کم شوی. هندوان او سیکهان د خپلو ګاونډیانو له خوا له زورېدو شکایت لري. د مړي د سوځولو او نورو اعتقادي مناسکو پر

istan Analysts Network, September 23, 2013, https://www.afghanistan-analysts.org/the-other-fold-of-the-turban-afghanistans-hindus-and-sikhs/

۱. هماغه منبع.

2. Foschini, Fabrizio, "The Other Fold of the Turban: Afghanistan's Hindus and Sikhs," Afghanistan Analysts Network, September 23, 2013, https://www.afghanistan-analysts.org/the-other-fold-of-the-turban-afghanistans-hindus-and-sikhs/

وړاندې د زغم کچه ډېره ټيټه ده او ماشومان يې د زورولو له امله نشي کولی ښوونځي ته لاړ شي. داسې ښکاري چې د افغانستان له دولت څخه هم د دې معضلې د هواري په برخه کې ډېره هيله نشته.[۱]

## *د استوګنې د ځای او د کار د چاپېريال تنوع*


**کليدي پوښتنې**

۵۴ پوښتنه: په هغه ځای کې چې تاسو ژوند کوئ، څه ډول خلک اوسيږي؟ ورپسې کوم ډول خلک په دې سيمه کې اوسيږي؟ آيا ستاسو کورنۍ او خپلوان دي؟ نور هندوان او سيکهان دي؟ که نور قومونه او د نورو دينونو پيروان؟

۵۵ پوښتنه: په کاري چاپېريال کې معمولاً له کومې ډلې خلکو سره کار کوئ؟ دويم تر ټولو ډېر خلک چې کار ورسره کوئ څوک دي؟ آيا ستاسو کورنۍ او خپلوان دي؟ نور هندوان او سيکهان دي؟ که نور قومونه او د نورو دينونو پيروان؟

په افغانستان کې د هندوانو او سيکهانو د مخ پر کمېدو نفوسو په اړه شک نشته. داسې ښکاري هغه هندوان او سيکهان چې په افغانستان کې پاتې دي، د ښار په مشخصو سيمو او مشخصو ځاينو ته نږدې اوسيږي. له دې واقعيت سره سره، دوی د خپلې استوګنې په ځای کې د مسلمانو ګاونډيانو او د کار په ځای کې د مسلمانو کارګرانو په منځ کې دي. کله مو چې له دوی څخه د دوی د استوګنې د ځای په اړه وپوښتل په ځواب کې ۸۵.۵٪ وويل چې د استوګنې د ځای شاوخوا يې نور قومونه اوسيږي، ۵۸٪ وويل چې د استوګنې د ځای شاوخوا يې هندوان او سيکهان اوسيږي، او ۲۷.٦٪ وويل چې کورنۍ او خپلوان يې شاوخوا اوسيږي. په کار ځای کې د تنوع د پوښتنې په ځواب کې ۹۱.۲٪ وويل چې همکاران يې د نورو قومونو او دينونو خلک دي، ۳۵.۲٪ وويل چې همکاران يې هندوان او سيکهان دي، او يواځې ۱۱.۳٪ وويل چې همکاران يې د کورنۍ غړي او خپلوان دي. دا موندنې ښيي چې هندوان او سيکهان د اوسيدو او کار په ځای کې په پراخه توګه د نورو په منځ کې مدغم شوي دي.

1. UNHCR Regional Representation for Western Europe, Hindus and Sikhs of Afghanistan: There Situation and Recommendation for the Assessment of the Claims. (Brussels, 2011), p 2. Available at: https://www.refworld.org/cgi-bin/texis/vtx/rwmain/opendocpdf.pdf?reldoc=y&docid=511ca9522




په کابل ولایت کې ډېری ځواب ورکوونکو (۹۶.۲٪) ویلي چې د نورو قومونو او ادیانو د خلکو په منځ کې اوسیږي. خو په ننګرهار ولایت کې د هغو کسانو شمېر چې ویل یې د نورو قومونو او دینونو د خلکو تر څنګ اوسیږي، د کابل په نسبت ډېر کم دی (۶۸.۸٪). دا موضوع ښیي چې په ننګرهار کې هندوان او سیکهان ډېر په هغو سیمو کې متمرکز شوي چې یواځې همدوی پکې دي.



د هندوانو او سیکهانو د استوګنې د ډول د (بېلګې) په پرتله د درېواړو ولایتونو د کاري چاپېریال تنوع په ننګرهار ولایت کې ٦٣.۴٪ ځواب ورکوونکو وویل چې په کاري چاپېریال کې یې هندوان او سیکهان کار کوي؛ هغه شمېره چې د کابل (٢٦.۴٪) او غزني (١٥.٩٪) په پرتله ډېره زیاته ده. سربېره پر دې ٢٥.٦٪ ځواب ورکوونو په غزني ولایت کې وویل چې په کار ځای کې یې د کورنۍ غړي او خپلوان کار کوي چې د کابل (٠.٩٪) او ننګرهار (١.٨٪) په پرتله ډېره زیاته ده.




## د تبعیض تجربه

## کلیدي پوښتنې


٥٦ پوښتنه: آیا کله یوې دندې ته د غوښتنلیک د ورکولو پر مهال له تبعیض سره مخ شوي یاست؟

٥٧ پوښتنه: زه د بېلابېلو ځاینو یو نوملړ درته لولم. که د خپلې عقیدې او دود د تفاوت له امله په دې ځایونو کې له تبعیض سره مخ شوي یاست، مهرباني وکړئ ما ته وواياست. که تبعیض سره مخ شوي یئ دا هم وواياست چې څو ځل؟ (الف) ښوونځی؛ (ب) پوهنتون (پ) د اوسېدو ځای؛ (ت) له پولیس سره په مخامخېدو کې؛ (ټ) د کار په ځای کې؛ (ث) د عمومي حمل و نقل په وسایطو کې؛ (ج) په بازار کې؛ (چ) په رستورانت کې.


٥٨ پوښتنه: اوس زه د هندوانو او سیکهانو د تبعیض د تجربې په اړه پوښتنه کوم. مهرباني وکړئ

راته ووایئ دا تجربې څو ځل درسره تکرار شوي؟ (الف) هندو او سیکهـ زده کوونکي په ښوونځیو کې ځومره د خپلې عقیدې او باور له امله د ناوړه چلند او دشمنۍ سره مخ کیږي؟ (ب) د یوې دندې لپاره د غوښتنلیک د ورکړې پر مهال هندو او سیکهـ هیوادوال د عقیدې او باور له امله څومره له خصومت او نامناسب چلند سره مخ کیږي؟ (پ) د هندو او سیکهـ هیوادوالو په کاري چاپېریال کې څومره له خصومت او ناوړه چلند سره مخ کیږي؟ (ت) د عومي حل و نقل په وسایطو کې هندو او سیکهـ هیوادوال د عقیدې او باور له امله څومره له خصومت او ناوړه چلند سره مخ کیږي؟ (ټ) په رستورانتونو کې هندو او سیکهـ هیوادوال د خپلې عقیدې او باور له امله څومره له خصومت او ناوړه چلند سره مخ کیږي. (ث) له پولیسو سره د مخامخېدو پر مهال هندو او سیکهـ هیوادوال د خپلې عقیدې او باور له امله څومره له خصومت او ناوړه چلند سره مخ کیږي؟

قاطع اکثریت ځواب ورکوونکي چې هیڅکله یې کومې دندې ته غوښتنلیک نه دی ورکړی. د ۲٦ ځواب ورکوونکو په منځ کې چې د دندې لپاره یې غوښتنه کړې وه، یواځې ۵ تنو باور درلود چې تبعیض ورسره شوی. هغه څه چې د پام وړ دي دا زوروونکی واقعیت دی چې پرېکنده اکثریت ځواب ورکوونکو هیڅکله دندې ته غوښتنلیک نه دی ورکړی. دا واقعیت کولی شي د هندوانو او سیکهانو انزواگرایانه چلند وي یا له خپل چاپېریال څخه بهر له دندې سره د دوی د لېوالتیا نشتوالی ښیي. د هندوانو او سیکهانو له خوا دندې ته د غوښتنلیک نه ورکولو د دلیل موندلو لپاره لا نوره څېړنه پکار ده.



موږ له ځواب ورکوونکو په عمومي ځایونو کې د تبعیض ډوله چلندونو سره د مخامخېدو د تجربې په اړه هم وپوښتل. ۲۴.۹٪ ځواب ورکوونکو وویل چې په ښوونځیو کې یې تبعیض تجربه کړی؛ په داسې حال کې چې ۴۰.۱٪ یې وویل چې هیڅکله ښوونځي ته نه دي تللي. (۶۹.۴٪) وویل چې پوهنتون ته نه دي تللي او ۲۰.۴٪ وویل چې په پوهنتون کې یې د تبعیض مزه لیدلې. سربېره پر دې، ۲۳.٦٪ ځواب ورکوونکو وویل چې د استوګنې په ځای کې ډېری مهال یا کله له تبعیض سره مخ شوي دي. همداراز، ۲۰.۲٪ ځواب ورکوونکو وویل چې ډېری مهال یا کله کله د حمل و نقل په وسایطو کې له تبعیض سره مخ شوي دي.





په عمومي ځایونو کې له هندوانو او سیکهانو سره تبعیض عام دی. کله هم هندوانو او سیکهانو ته د پردي او بهرني خطاب کیږي. یو ځل خو حتا د هیواد د پارلمان یو غړي هندوانو او سیکهانو ته د بهرني او مېلمه خطاب کړی و.[1]

د هندوانو او سیکهانو یو استازی هم له دوی سره د هیوادوالو تبعیض ډوله چلند تائیدوي. د هغه په وینا، «موږ سره څکه تبعیض کیږي چې نشو کولی له ځانه دفاع وکړو. موږ یو فقیر اقلیت یوو چې د نورو غونډې پیسې او وسله نه لرو. نور ډېر پیاوړي متحدان لري، چې له هغوی ملاتړ کوي. موږ دومره

۱. له اشوار داس سره مرکه. فرانکفورت. ۱۰ نومبر ۲۰۱۸.

ځواکمن نه یو چې څوک مو غږ واوري.»[۱]
دا ذهنیت حتا له هیواده بهر په دولتي ادارو او سفارتخونو کې هم په پراخه توګه شته. لکه، یو مسلمان کولی شي په یوه قضیه کې چې په یو هندو پورې اړه لري، شاهدي ورکړي؛ خو یو هندو په داسې قضیه کې چې د مسلمان اړوند وي، د شاهدۍ اهلیت نه لري.[۲]
د تبعیض له شخصي تجربې ور هاخوا، په ټوله کې په عمومي ځایونو کې له هندو او سیکهـ ټولنې سره د تبعیض اړوند د دوی د برداشت په اړه مو وپوښتل. بیا هم، موندنو وښوده چې ښوونځي هغه عمومي ځایونه دي چې په هغې کې له هندوانو او سیکهانو سره تر ټولو ډېر تبعیض شته، ځکه ۶۱٪ ځواب ورکوونکو وویل چې په ښوونځیو کې ډېر کله یا کله کله وسره تبعیض کیږي. نور ځایونه چې د ځواب ورکوونکو له نظره له هندوانو او سیکهانو سره پکې تبعیض کیږي، کارځای (۳۳.۱٪) او د عمومي حمل و نقل وسایط (۲۷٪) دي.




۱. له نریندر سینګهـ سره مرکه. کابل. ۸۲ اکتوبر ۸۱۰۲.
۲. له اشوار داس سره مرکه. فرانکفورت. ۰۱ نومبر ۸۱۰۲.

## *لومړی ضمیمه: روش پېژندنه*

په افغانستان کې د نفوسو شمېر سخت د مناقشې وړ گرځېدلی. دا مناقشه د هندو او سیکهـ د نفوسو پر سر تر ټولو سخته ده، ځکه د دوی دېر شمېر له هیواده تښتیدلي دي. سربېره پر دې، هندوان او سیکهان د افغانستان په داخل کې هم مهاجر شوي او لویو ښارونو ته یې پناه وړې. د دې نظر پوښتنې له ترسره کېدو وړاندې، له هندو او سیکهـ رهبرانو سره په مشوره موږ د دوی نفوس د ۲۰۰ تر ۲۵۰ کورنیو په منځ کې تخمین کړ. د افغانستان دېری هندوان او سیکهان د کابل، غزني او ننگرهار د ښارونو په مرکزونو کې اوسيږي خو یو کم شمېر هم په هرات، خوست، کندوز او پران ولایتونو کې ژوند کوي.
د دې نظر پوښتنې د ترسره کولو لپاره، پرسش موسسې له ترکیبي روش پېژندنې گټه اخستې او د دې څېړنې د تعریف شوې روش پېژندې پر بنسټ ۳۰۰ مرکې له کمي پوښتنو او له کیفي پوښتنو سره تفصیلي مرکې ترسره شوې دي. په کمي مرکو کې د اعتبار وړ آماري معلوماتو پر بنسټ د ولایتونو تر منځ پرتلیزه مطالعه وه. پر همدې بنسټ، د هر ولایت غزني، کابل او ننگرهار لپاره مو د بېلگې په توگه ۱۰۰ تنه وټاکل. وروسته د افغانستان د هندوانو او سیکهانو ټول نفوس د نظر پوښتنې لپاره وټاکل شو چې زموږ د نظرپوښتنې واحد هم کورنۍ وټاکل شوه. ټول کمي معلومات په تصادفي ډول له بالغو هندوانو او سیکهانو نرانو او ښځو څخه راټول شوي. د ترسره شویو مرکو شمېر څنگه چې لومړی ټاکل شوې وه، تفاوت کوي؛ او هم د ولایتونو په منځ کې تفاوت لري. د دې تفاوت لامل د نفوسو غیر معتبرې شمېرې او د هندوانو او سیکهانو د مهاجرت لوړه کچه ده چې د دې څېړنې د نمونه اخستنې پروگرام یې اغېزمن کړی دی.

| ولایت | لومړنۍ آماري نفوس | مرکه شوی آماري نفوس | تفاوت |
|---|---|---|---|
| کابل | ۱۰۰ | ۱۰۶ | ٦ |
| ننگرهار | ۱۰۰ | ۹۳ | -۷ |
| غزني | ۱۰۰ | ۸۴ | -۱٦ |
| کندوز | ۰ | ۳ | ۳ |

د کیفي مرکو په برخه کې مو له لسو تنو سره د بېلابېلو او پراخو موضوعاتو په اړه نیمه منظمې او تفصیلي مرکې وکړې. دې متخصصو مرکه کړای شویو ارزښتناک اطلاعات او نظریات زموږ په واک کې راکړل چې زموږ کمي موندنې یې لا تکمیل او غني کړې دي. دا مرکې له نظرپوښتنې او میداني کارونو سره

یوځای پیل شوې او د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر د ۲۸مې او د ۲۰۱۸ کال د ډسامبر د ۵مې نېټې تر منځ ترسره شوې دي.

| مرکه شوی | د مرکې نېټه | د مرکې طریقه |
|---|---|---|
| فریدالله فرهمند | ۵ دسامبر ۲۰۱۸ | مخامخ مرکه |
| روچي کمار | ۱ نومبر ۲۰۱۸ | مخامخ مرکه |
| ایشوار داس | ۱۰ نومبر ۲۰۱۸ | د سکایپ له لارې مرکه |
| سعیدالله سلام | ۱۳ نومبر ۲۰۱۸ | مخامخ مرکه |
| سرپال سینګهـ | ۱٦ نومبر ۲۰۱۸ | مخامخ مرکه |
| رهنورد زریاب | ۱۷ نومبر ۲۰۱۸ | مخامخ مرکه |
| زمزمه نیازی | ۱۹ نومبر ۲۰۱۸ | مخامخ مرکه |
| دلیپ سینګهـ | ۲۳ نومبر ۲۰۱۸ | د ټلفون له لارې مرکه |
| بصیر حمیدي | ۲۹ نومبر ۲۰۱۸ | د ټلفون له لارې مرکه |
| نریندر سینګهـ | ۲۸ اکتوبر ۲۰۱۸ | مخامخ مرکه |

